
# ځيني معلومات

# او د تفنني نندارو رمزونه

www.libtool.com.cn





ليکوال: فيض محمد (ناياب – عطايي)

ژباړونکي: احمد جان او انجنير نيک محمد (هدايت)

ځيني معلومات او

# د تـفنني ننداړو رمزونه

PROPERTY OF ACKU 12255 5

لـيكوال : فـيـض مـحـمد (نـايـاب – عـطايی)

ژباړونکي : احمد جان او انجنيرنيك محمد (هدايت)

کابـــل : ۱۳۸۳ ل / ۲۰۰۴م

www.libtools.com.cn

## کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم : ځيني معلومات او د تفنني ننداړو رمزونه
ليکوال : فيض محمد (ناياب ـ عطايي)
ژباړونکي : احمد جان او انجنير نيك محمد (هدايت)
خپرونکی : د اريك دګرځنده کتابتونونو اداره
پرله پسې نمبر : ۱۴۴
لومړی چاپ : ۱۳۸۳ لمريز کال، د خپروونکي له خوا، پېښور
چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه
د مخونو شمېر : ۱۱۰ مخه
کڅه : ۱۳،۵×۲۱ سانتي متر
د خپرونکی پته : کور نمبر B-5، ګل مهر روډ،
پوسټ بکس ۱۰۸۴ يونيورسټي ټاون پېښور
ټيلفون: ۵۷۰۴۳۹۲ ، ۵۷۰۱۷۲۹ ، ۵۷۰۲۵۳۱
بريښناليك: aric@brain.net.pk
چاپ ځای : الازهر خپرندويه مؤسسه، ټيلفون: ۰۹۱-۲۵۶۴۴۱۴
د ويش او پلورنې ځای : د اکبر دفتر (د افغانانو لپاره د مرستو د انسجام اداره)

د کتاب له مطالبو څخه اقتباس د ماخذ په ښودلو سره جايز دی

www.libtool.com.cn

بسم الله الرحمن الرحيم

د اکبر د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز(اريك) له اتو کالو راهيسې د افغانستان ولايتونو ته د ګرځنده کتابتونونو پروګرام تر لاس لاندې نيولی دی. ګرځنده کتابتونونه چې د فلزي صندوقونو په بڼه جوړ شوي دي، په يوه خاص ځای کې اېښودل کېږي. د سيمې خلك ورځخه امانت کتابونه وړي، لولي يې او خپلو شاوخوا خلکو ته يې هم اوروي. کله چې په سيمه کې د کتابتون ټول کتابونه ولوستل شول، کتابتون بلې سيمې ته لېږدول کېږي او يا پرې يو شمېر نور نوي کتابونه ورزيات او په هماغه ځای کې پاتې کېږي.

موږ دا هڅه کړې ده چې د ګرځنده کتابتونونو له پاره داسې کتابونه را ټول کړو چې د ليکنې ژبه يې ساده او د خلکو د اړتيا وړ مطالب ولري، تر څو چې په ورځني ژوند کې له هغوی سره په ديني، ټولنيزو، اقتصادي، ښوونيزو، روزنيزو، روغتيايي، تاريخي، فني، مسلکي او ... مسايلو کې مرسته وکړي.

موږ د ګرځنده کتابتونو تر څنګ دا سروې هم تر سره کوو چې خلك څه ډول آثارو او موادو ته اړتيا لري او د کومو موضوعاتو او مطالبو د مطالعې هيله من دي. موږ لومړی هڅه کوو چې غوښتل شوي کتابونه له بېلابېلو منابعو (کتاب پلورنځيو او خپرونيزو مرکزونو) څخه برابر او راونيسو. په نوموړو مراجعو کې د مطالبو او موادو د نشتوالي په صورت کې اريك هڅه کوي چې د اړتيا وړ آثارو په تاليف، ترجمه او چاپ سره دغه تشه ډکه کړي.

لومړی

www.libtool.com.cn

د دغه موخې او هدف تحقق او په عمل کې پلي کولو په منظور پنځه کاله د مخه د لوستونکو د علاقې وړ کتابونو د چاپ او خپراوي کار پیل شو او له هغه وخت راهیسې تر اوسه پورې د اریك ګرځنده کتابتونونو اداري د محترمو مؤسسو په مرسته په دغه برخه کې پیاوړي ګامونه اخیستي او ګټور فعالیتونه یې تر سره کړي دي.

د ښه او سیستماتیك کار له پاره د اریك د اداري استازیو او یو شمېر څېړونکو او لیکوالو یو ګډ هیات وټاکل شو چې د مطلوبو کتابونو د پلان کولو، آماده کولو او چاپ پړاوونه، چې د تکړه او مسلکي لیکوالو له خوا تالیف کېږي، په ګډه پر مخ بوځي.

دغه هیات د افغانانو د صمیمي همکارۍ میرمن نانسي هچ دوپرې، محقق سید محی الدین هاشمي، فیض محمد نایاب عطایي، پوهنیار روضت الله مجید، محمد شکیب افضلي، مشعل سمسور او محمد رفیع فاروق څخه تشکیل شوی دی.

مونږ له خپلو ټولو درنو لوستونکو څخه چې د هېواد په بېلابېلو ښارونو او کلیوالو سیمو کې زموږ له کتابتونونو څخه ګټه اخلي، هیله لرو چې خپلې اړتیاوې، غوښتنې او پوښتنې راولېږي او د هېواد له لیکوالو او پوهانو څخه غواړو چې له موږ سره په دې لاره کې مرستندوی شي، چې وکړای شو خپلو خلکو ته لا ښه او ګټور کتابونه وړاندې کړو.

په درنښت

د اریك د ګرځنده کتابتونونو اداره



www.libtool.com.cn

# فهرست


| سرليك | مخ |
| --- | --- |
| د سر خبره | ۱ |
| لومړی څپرکی (نظري بحثونه) | ۳ |
| سريزه | ۳ |
| ۱- تجربه دعلومو مور ده | ۵ |
| ۲- روح لمانځني او کوډې | ۶ |
| ۳- فال او طالع کتل استرولوجيAstrology | ۱۰ |
| ۴ - دعا، فال ليدل او تعويذ ليکل نه دي | ۱۹ |
| ۵ - ورغوي پيژندنه (پالمستریPalmistry) | ۲۶ |
| ۶ - ستوري پيژندنه او نجومAstronomy | ۲۸ |
| ۷ - تياتر او د مداريانو تغر | ۳۰ |
| دوهم څپرکی (ځيني ننداري او د هغه د سرته رسولو طريقه) | ۳۴ |
| ۱- کوډگره کتابچه | ۳۵ |
| ۲- کوډگره صندوقچه | ۳۷ |
| ۳- د فلزي سکو ورکيدل | ۳۸ |
| ۴- تشه کوزه د اوبو ډکيږي | ۳۹ |
| ۵- دانسان د بدن اره کول | ۴۰ |
| ۶- په لاس، پزه او يا غوږ کې د پاکي ننه ايستل | ۴۲ |
| ۷- په مټ کې د چړې او يا تورې ننه ايستل | ۴۳ |
| ۸- په ژبه کې د سيخ ننه ايستل | ۴۴ |
| ۹- د دستمال په دوو کونجونوکي غوټې او دهغه په يوه لاس خلاصول | ۴۵ |
| ۱۰- کړکي (نی) يا د شپيلۍ په شان سحرناکه ميلې | ۴۶ |
| ۱۱- د هغه اورلګيت دخلي پيداکول چې تاسو ټاکلی دی | ۴۷ |


www.libtool.com.cn

| سرلیك | مخ |
|---|---|
| ۱۲- د اورلګیت دخلي ماتول او بیا د هغه سالم را ایستل | ۴۸ |
| ۱۳- د ډك یا تش اورلګیت ډبی (قوتی) | ۴۹ |
| ۱۴- د اورلګیت تش ډبی (قوتی) | ۵۰ |
| ۱۵- د اورلګیت دخلوسرونه ورکیږي | ۵۱ |
| ۱۶- دپړیو پریکول او بیا د هغې جوړ بنودل | ۵۲ |
| ۱۷- د دستمال یا پتکي سوځول او بیا هغه سالم را ایستل | ۵۳ |
| ۱۸- د چارمغز یا بادام په لاس ماتول | ۵۴ |
| ۱۹- شمع په دستمال بدلیږي | ۵۴ |
| ۲۰- له مقوا څخه ددستمال راایستل | ۵۵ |
| ۲۱- له کاغذ څخه د دستمال را ایستل | ۵۶ |
| ۲۲- د شپو په خولۍ کې د شیانو بدلول | ۵۷ |
| ۲۳- د خولۍ څخه د دستمال را ایستل | ۵۷ |
| ۲۴- د قطعو عادي پاڼو په طوسونو بدلول | ۵۸ |
| ۲۵- د قطعو د پاڼوسپینول | ۶۰ |
| ۲۶- د قطعو د هغه پاڼې پیدا کول چې تاسو خوښه کړې ده | ۶۰ |
| ۲۷- د قطعو هغه پاڼو مونډل چې د لاسه لویږي | ۶۱ |
| ۲۸- دقطعو دپاڼو ګډول اوبیا په څلورو کتګوریو دهغه بیلول | ۶۲ |
| ۲۹- د قطعو د پاڼو ګډول او بیا د خالونو په ترتیب بیلول | ۶۳ |
| ۳۰- د شمعې خوړل | ۶۳ |
| ۳۱- په یخ سره د سګرټ بلول | ۶۴ |
| ۳۲- دشمعې بلول په اوبو | ۶۵ |
| ۳۳- دسګرټ حاضر کول | ۶۶ |
| ۳۴- ساعت له کاره پاتیږي | ۶۷ |
| ۳۵- مقناطیسي لاس | ۶۸ |

www.libtool.com.cn

| سرلیك | مخ |
|---|---|


۳۶- عجیبه چوکۍ ........ ۶۹
۳۷- ګیلاس له شربت څخه تش او یا ډکیږي ........ ۷۰
۳۸- اوریدونکې هګۍ ........ ۷۱
۳۹- د پنجې غږ په چینۍ کې اوریدل کیږي ........ ۷۲
۴۰ عینکې پورته الوزي ........ ۷۲
۴۱- په مروړل شوي کاغذ کې د اوبو ورکیدل ........ ۷۳
۴۲- د اعدادو خوښول او د هغه موندل ........ ۷۴
۴۳- د لیك پاکټ یا د شمیر ماشین ........ ۷۶
۴۴- دکمپیوټر او د شمیر له ماشین سره لوبه ........ ۷۶
۴۵ - د سیم څخه د فلزي حلقې تیرول او د جایزې اخیستل ........ ۷۷
دریم څپرکی: د راتلونکې لپاره څه هیلې او امیدونه ........ ۷۹
۱ - هغه قندونه چې د اوبو او لوګي څخه په لاسه راځي ........ ۸۰
۲ - هغه قندونه چې داوبو او د سکارو د ترکیب څخه
په لاس راځي. ........ ۸۱
۳ - ځنګه کولی شو چې د اوبو او د لوګي د ترکیب
څخه نور عضوی مرکبات لاس ته راوړو. ........ ۸۲
۴ - د متان (د سوند) دګاز Ch4 استحصال د اوبو
او د لوګي له ترکیب څخه. ........ ۸۴
۵ - په سرو زرو باندې د مس او نورو فلزاتو د بدلیدلو امکانات ........ ۸۵
۶ - د ترافیکی پیښو د مخنیوي په خاطر څو لارې چارې ........ ۹۵
۷ - په راتلونکې کې پیپ یا پلاستیکی واټر پمپونه ........ ۹۶
مآخذ ........ ۹۹


www.libtool.com.cn

PROPERTY OF ACKU
12255

## د سر خبره

کتاب د بشر مهمه اختراع او د پوهې ارزښتناکه خزانه ده. کتاب هغه ښوونکی دی چې زموږ له ځورولو پرته روزي او لارښوونه راته کوي. دکتاب په واسطه دټولنو ادبیات، تاریخ او تمدن ساتل کیږي او راتلونکو نسلونو ته لیږدول کیږي. د کتاب په لوستلو د مهمو پیښو، فکرونو او کلتورونو سره آشنا کیږو او دټولنو د ودې د لارې وړاندوینه هم کولی شو.

د ښوونځیو د لومړنیو ټولګیو په یو کتاب کې یو شعر راغلی و. چې د یو ښه پیل په هیله یې دلته راوړم:

*همنشینی به از کتاب مخواه — که مصاحب بود گه و بیگاه*
*اینچنین همدم لطیف که دید — که نرنجید و هم نرنجانید*

دا کتاب چې د تاسو دعلم او پوهې دمینه والو په وړاندې ایښی دی د لسګونو کلونو څیړنو او پلټنې نتیجه ده چې دځینو پخوانی او اوسنی علومو او فنونو نتیجه او هم د لس ګونو کتابونو، مجلو عملی او فلسفي مقالو کې د څیړنو لنډیز دی.

ښایي دا په افغانستان کې لومړنی کتاب وي چې د تفنني نندارو په هکله لیکل شوی دي. همدارنګه دا کتاب د علومو او فنونو د ډګر له کارکوونکوسره د بحثونو محصول دی چې په هغه کې وړاندیزونه، هیلې، فکرونه او تحقیقي نوې نظر یې شته، چې تر اوسه زما دا کتاب په شخصي توګه باندې د مالي توانمندی د نشتوالي له امله نه دي چاپ شوی.

دا اثر د اوسنیو او پخوانیو علومو او فنونو، لکه ریاضي، کیمیا او فزیك د ځینو قوانینو په هکله معلومات ورکوی، چې ځینې وګړي د ځانګړو ګټو او ټولنیزو مفاسدو کې په ناوړه توګه کار ترې اخلي هیله من یم چې زموږ هیوادوال به تردې وروسته نوموړو تجربو ته د جادو په سترګه نه ګوري. تګان او تیر ایستونکي به په لوښي کې د دجله او فرات او یا ګنګا او جمنا اوبه نه شي حاضرولای. او هم عادي غوږي به د منګور او قطان د

غوړېو په نوم ونه پلوري او يا به د موږك او مار يا منګور د جنګ په نوم له خلکو څخه پيسې ټولې نه کړي. او يا د فال ليدونکي او تعويذ ليکونکي په پلمه به د خلکو تر منځ د بدګمانۍ تخم ونه شيندي.

دا کتاب د اريك،څواکمن ABLE په مرسته چاپ او خپرېږي. دا اداره (څواکمن) له ډېرو کلونو څخه راپدې خوا د هيواد په مرکز او ولايتونو کې د عملي، ادبي، فرهنګي او ټولنيزو کتابونو په چاپ او ويشلو لګيا ده. په رښتيا د دا ډول کتابونو چاپ او نشرول، زموږ دجګړې ځپلي هيواد لپاره ډېر ارزښتناك ګام دی چې دهيواد په فکري او فرهنګي بيارغونه کې کولای شي زموږ هيواد د پرمختګ او د اوسني مهال له اړتياو سره سم نوی نوی علوم او فنون رواج وموي.

په دې هيله يم دا کوچنۍ مجموعه ستاسو لوستونکو د استفادې وړ وګرځي او کله چې له دا ډول تفنني ننداړو سره مخامخ کيږئ او يا د تلويزيون په پرده هغه ګورئ د هغې په رازونيوه او اصلي حقيقت يې وپيژنئ.

هيله من يم چې ددې کتاب خپريدل د ګران هيواد په علمي، ادبي، ټولنيز، تاريخي او فرهنګي ډګر کې يو خدمت وي.

د اريك د ګرځنده کتابتونونو د اداري (څواکمن) څخه په مننې سره چې ددې کتاب د چاپ او ويشلو لار او چارې برابره کړه.

په درنښت

فيض محمد (ناياب، عطايي)

www.libtool.com.cn

## لومړی څپرکی:

# نظري بحثونه

**سریزه:**

بشر تل د خپلو ټولنو د اصلاح او ښه والي له پاره د دا ډول لارو چارو او قوانینو د موندلو په لټه کې و او دی، تر څو د هغې په وسیله د پخوانیو انسانانو د ژوندانه په رازونو پوه شي او دهغې پر بنسټ د خلکو د ژوندانه واقعیتونه درك کړي او تر یوې اندازې پورې د راتلونکي وړاندوینه وکړي.

لدې امله انسانانوله ډیرې پخوا څخه دا حقیقت پیژندلی دی چې یو شمیر اوراد، تلقینات، شګونونو، بوټي، تیږي، نور شیان او دودونه د انسانانو، حیواناتو او بوټو په ژوندانه لویه اغیزه لري.

په لومړنیو پیړیو کې انسانانو د ستورو په کتلو، د لاس په کرښو، پچه اچولو، دځینو نښو په لیدلو او همدارنګه د ځینو ښونونو ته په کتلو سره د وګړو دخیر او شر، نیکمرغۍ او بدمرغی وړاندوینه وکړي او هغوی له ورځنیو، تیرو او راتلونکو پیښو څخه خبر او دوی ته هیله وړ کړي او یا هم د هغوی د خوښۍ او ساعت تیری زمینه برابره کړي، چې په دې ډول درمالي، فال لیدلو، تعویذ لیکلو، ورغوي پیژندنه، شعبده بازي او نور فنون رامنځته او له مصیبتونو او ناهیلۍ څخه د بشر د خلاصون له پاره اخلاقي، ټولنیز، هنري او فرهنګي دستورونه رامنځته کړي، تر څو د جرم، جنایت او ځوریدلو څخه د نجات او د خلکو د ټولنیز ژوند سموالی ومومي، نه دا چې د شخصي ناوړه ګټو د اخیستلو اود خلکو تر منځ بدګماني رواج ومومي.

www.libtool.com.cn

نو ځکه دا فنون، په لومړیو کې په دوکه او ټګیو ولاړ نه و چې اوس په ځینو ټولنو کې داسې په تجارتي او خندنۍ بڼه اوښتي او ځینو کسانو ته د پیسو د پیدا کولو یوه لار ګرځیدلې او دټولنې یو شمیر بیکاره افراد د خلکو د پاکو احساساتو څخه په ناوړه ګټه اخیستنې سره د واټونو، پارکونو په څنګونو کې ناست او په راز، راز ژمنو سره له خلکو څخه روپۍ اخلي. که موقع ورته برابره شوه د ناروا هوسونو سرته رسولو ته هم لاس اچوي.

خو ما خبرې هغه چاته مخامخ نه دي چې د خیر غوښتنې او خلکو ته د خدمت کولو هدف لري او دخلکو د ستونزو او روا اړتیاوو د لرې کولو له پاره د لوی ښتن دربار ته د دعا لاسونه پورته کوي او هیڅکله ځانګړې هیلې له خلکو څخه نلري.

په ځینو هیوادونو کې په مختلفه اندازه دا فنون ملاتړ کوونکي لري او ځینې بیا دا فنون د علومو ځانګړې برخې بولي، حتی ځینې یې د سپیڅلتیا تر اندازې پورې درناوی لري. خو ځینې کسان شته چې نوموړو فنونو ته په علمي ارزښت قایل نه دي او د علومو په لړ کې رمل، فال لیدنه، ورغوي پیژندنه، تعویذ لیکنه او شعبده ته ځای نه ویني.

اړتیا ده چې په دې هکله پراخې علمي څیړنې وشي او ددې فنونو بنسټونه د تجربو او اوسنیو علومو په رڼاکې وڅیړل شي. ځکه چې دا د منفي اړخونو په څنګ کې ځینې مثبت ټکي هم لري چې هغه د ساتلو او منفي اړخونه یې د غور او تعدیل وړ هم دي. چې په وروسته برخوکې ددې مطلب د څرګندولو له پاره تر مختلفو سرلیکونو لاندې بحث او څیړنه کوو.

**۱ – تجربه د علومو مور ده:**

علم منظمې پوهې ته وایي چې د ټاکلو قواعدو او لارو له امله لاسته راشي او د طبیعي ټولنیزو او فکري پدیدو تر منځ اړیکې بیانوي.

علم د تجربې پر بنسټ او د علت او معلول ترمنځ د اړیکو په لټولو باندې ولاړ دی او هیڅ معلول بې د علت څخه نه رامنځته کیږي. که د علت او معلول تر منځ اړیکي په طبیعی مسایلو کې وي موږ د طبیعي علومو سره سرو کار لرو که موضوع په ټولنیزو مسایلو کې د علت او معلول تر منځ د اړیکو موندل وي، دټولنیزو علومو سره.او که د فکري مسایلو کې د علت او معلول د اړیکو پیدا کول وي، موږ اروا پوهنی او هم که خبره په ټولنیزو او فردي موضوعاتو کې د علت او معلول د اړیکی موندل وی، موږ له نیمه ټولنیزو علومو سره سرو کار لرو.

ټول علوم د تجربو او د معقولو او منطقي تړل شوو څیړنو له امله منځته راغلي او د ټاکل شوو شرایطو له امله د تطبیق او تکرار وړ دي.

هغه تجربې چې د یو شانته شرایطو لاندې د تکرار وړ نه وي، قانونمندانه نه دي او علمي تجربه هم نه ګڼل کیږي. خو بیا هم دا ویلای نه شو چې ټولې پوهې او پیژندنې چې د افرادو د تجربې لاندې رانشي، نوبیا واقعیت ندي او نه علمي معلومات دي. د ساري په ډول د لوی څښتن تعالی په بې شمیره مخلوقاتو باندې تجربه چې له اوسنیو امکاناتو او تجربو څخه ډیر اوچت لوړ کار دي.

په داسې حال کې چې د کائیناتو د پراختیا او په هغه کې نظم او ښایست د لوی څښتن په شتوالی دلالت کوي چې مثل، شریك او نظیر نه لري او د مخلوقاتود ټول عالم څخه لوړ دی. څښتن تعالی(ج) کائنات په دې سټروالي او پراختیا سره پیداکړي او انسان یې په علم او عقل سره سمبال کړی دي او

هغه ته يې د علم، تجربې د تحقيق او فکر خواته مينه ورکړې ده، انسان يې اشرف المخلوقات بللی دی، ټول کائنات يې د انسان په چوپړ کې د هغه د خدمت له پاره ورکړي دي، تر څو دانسانی کار او څېړنې له لارې ددې وړتيا پيدا کړي چې ټول کائنات تسخير او په خپل خدمت کې راولي او له ګڼو نعمتونو څخه چې په ډېر ظرافت او حکمت سره پيدا شوي دي، استفاده وکړي، خو دا څېړنې او تجربې اوږد وخت او پراخه امکانات غواړي چې په اوسني وخت کې نه تر لاسه کيږی او انسان بايد له دی واقعيتونو څخه منکر نه شي.

لکه چې ليدل کيږی، هغه تجربو چې د خلکو د ليدو ځواك، څېړنې او فکر سره برابری دی، په چټکتيا سره د علومو پوه برخه ګرځي او هغه تجربې چې په هغه کې د علت او معلول رابطه پټيږي، جادو، شعبده او طلسم ورته ويل کيږي، زياتره دا تجربې د اجسامو له فزيکي، کيمياوي او رياضي خواصو څخه تر لاسه کېږي، چې په خپله د رياضي، فزيك او کيميا د علومو برخه جوړوي، تفنن، شوخي، سرګرمي او نمايش د غير پرستې او جادو سره بشپړ توپير لری.

## ۲ – روح لمانځنې او کوډې (جادو):

د ځمکې په مخ د انسان د پيدايښت له لومړی ورځې څخه تر اوسه يو شمير انسانان په دې باور و چې د نړۍ واقعيت او کائنات د يو ستر ځواك د کار څخه معلول دي چې په مختلفو ارواحو او اجسامو کې څرګنديږي او د هغه له امله په هره پديده کې يوه اندازه ارواح ښکاري. د دوې په نظر ټول غرونه دريابونه، ډبرې، ونې، ستوري او آسمان په لنډه توګه ټول اشکال او

www.libtool.com.cn

خارجي اشکال د روح لرونکی دي. په زیاترو پخوانیو ملتونو کې تر اوسه په دیوانو اوپریګانو عقیده شته او له هغوی ډاریږي.

د بابلیانو په نظر (چې په اوسني عراق کې یې ډیر زوړ مدنیت درلود) ټول شیان حتی سیارې هم د روح لرونکي دي چې د انسانانو په سرشت او سرنوشت باندې حاکم دي.

سرجیمیز، اوسنی لویدیځ لیکوال او فیلسوف وایي:

((له انسان څخه د لوړ ځواك خوشحالی او مرستې غوښتنه د طبعیت او د انسانانو د ژوند د پیښو ګرځوونکی او په هغوی واکمن دي))

په آسمانی اجسامو کې د روح د موجودیت په هکله ځینې قبایل وایي چې: کله کله دیوان په سپوږمۍ او یانوروآسمانی اجسامو برید کوي، نو ځکه د سپوږمۍ د نیولو په مهال ددې قبیلې خلك ډارونکي غږونه وباسي، تر څو دیوان په سپوږمۍ باندې له برید څخه وشړي.

کپلر په دې باور و چې هره سیاره د روح لرونکې ده او هغه په خپل مدار ګرځوي.

په دې ډول لومړنیو انسانانو کله چې نړۍ د ارواحو څخه ډکه ولیده او نه یې شول کولای چې په هغه مسلط شی، نو د هغوی د رضایت او مرستې په غوښتلو پیل وکړ او به دې اساس لومړی کوډګري د روح ستایلو دفن په توګه راڅرګند شو، چې د هغوی د مرستې د راجلب کولو چې په خپل زړه د یوه شي ښکاره کولو او تلقین باندې ولاړه وه.

نو ځکه کوډګري له تلقین څخه یوازینی ځواك دی چې هم افسون کوونکی اوپه افسون باندې باوري خلك ځانته راجلب کوي، د ساري په ډول افسون کوونکی په ځینو ټولنو کې د باران د اوریدو له پاره په یوه ونه باندې اوبه شیندي.او نور هم د هغه څخه پیروي کوي.

تر اوسه په بالکان حتی د المان په ځينو برخو کې که يوه موده باران ونه اوريږي، بيا يوه ځوانه انجلۍ لوڅوي او په ځانګړو تشريفاتو سره پر هغې اوبه شيندي او دکوډې په څير اورا د «دعاګانې» ورباندې وايي.

په سوماترا کې هغه ښځې چې ماشومان يې نه پيدا کيږي، يو ماشوم له لرګو څخه جوړوی او هغه يې په غيږ کې نيسي. دوی فکر کوي چې په دې کار سره به د هغوی درملنه وشي.

د «بابار»په مجمع الجزاير کې ښځې نانځکه له سرو مالوچو څخه جوړوي او داسې ښيي چې هغې ته شيدې ورکوي. او ځينې اوراد لولي. بيا په کلي کې دا آوازه کيږي چې دې ښځې ماشوم زيږولی دی. او دوستان يې مباره کی ته راځي.

د داياکو (د برنـو د سيمه ييزو خلکو په منځ کې هغه ښځې ته چې د ماشوم د پيداکولو درد را پيښ شي، خلك کوډګر راوړلي چې دهغې دردکم کړي او ماشوم زر نړی ته راوړي.

کوډګر ناروغ ته ورځي په ځان تاويږي داسې ښکاروي چې د زيږيدنې درد يې دي وروسته له څو منټو (دقيقو) يوه ډبره له ملا څخه راغورځوي او اوراد لولي، داسې جوتوي چې ماشوم د مور له رحم څخه راوځي

کله کله هم په ناڅاپي توګه ځينې د کوډګرۍ له لارې درملنې اغيزمنې کيږي، لکه چې دکتور جيمز والش دا ډول درملنې په خپل کتاب کې راغونډې کړي او مثال راوړی ده، که د تاسو د ځوانۍ په جوش کې ياستې او پر مخ مو د ځوانۍ دانې (بخارونه) راخيږي. دشپې د ستورو ډك آسمان ته وګورئ تر څو د شهاب ثاقب د ستورو ليدنه وکړئ او بيا سمدلاسه په خپل مخ لاسونه ووهې ټول بخارونه به مو له منځه لاړ شي.

په منځنیوپیړیوکې به خلکو په خپلو دښمنانو کوډې کولې، دهغوی په څیر به یې شکل له موم څخه جوړاوه بیا به یې هغه سورې سورې کاوه. حتی اوس هم خلك دخپلو دښمنانو تصویرونه سوځوي، لکه چې د پروییان قبیلې دې کارته د روح سوځول وايي.

معمولاً خلك د کوډګرو د لس ګونو ناکامیو په لړ کې یوه کامیابي په یاد ساتي او یادونه یې کوي.

مګر کوډګران او جادوګران له عادي خلکو څخه زیات د علتونو او هغوی د نتیجو په لټه کې وي او د غوښتنې وړ هدفونو له پاره وسایلو د پیداکولو له پاره هڅه کوي.

کوډګر د ځینو وسایلو په واسطه داسې ښکاره کوي چې د افسون او تومار په لوستلو سره بري ته رسیږي. مثلاً منګور نیوونکي او شعبده بازان د شپیلۍ په وهلو سره دومره منګور شاوخوا راګرځي، تر څو منګور د ګرځیدلو او ځارلو څخه ستړی او سر په ځمکه یږدي، تر څو آرام شي په هغه وخت کې شعبده باز هغه دستوني او لکۍ ته لاس اچوي او یاد منګور نیولو جال پرې اچوي او منګور نیسي.

چې بیا وروسته دهغه د زهرو ډك غاښ او یا نیش وباسي. دی داسې ښکاره کوي چې ټول حکمت دده په افسون او جادو کې دی.

خو کله کله له کوډګر څخه طبیب، حکیم، ستورې پیژندونکی او کیمیاپوه هم جوړشي. ښه داده چې د کوډګرو ټول اعمال، حرکات او ویل دعلومو په رڼاکې سره مقایسه شي او دهغه د پیل څخه د هغه سوابق، حقایق او واقعیتونه وګورو که زر تسلیم شو او هغه ومنو ممکنه ده ځینې حقایق غوره کړو او د ځینو حقایقو څخه غافل پاتې شو. لکه چې یو پوه وايي: تیروتنه د یو سړي په قضاوت کې د بیړې څخه منځته راځي.

لیدل کیږي چې کودګري کله کله نه یوازې په پوهه او نویو ډرامو باندې اوړي، بلکې کله کله نوي منفي او مثبت رواجونه هم ترې پیدا شوي دي. ځینې افسونونه د کوډګرۍ په اعلاناتو اوښتي او هغه ډیر تکرار کیږي. لکه چې ډیري بدویني او طلسمات دافسون یا جادو کولو پرمخ تللي بڼه ده.

آتنیانو د دوی له خدایانو څخه د مرستې له پاره دوه جنایت کاران او مجرمان قرباني کول، تر څو د مرضونو، وچکالیو اووبا څخه وژغورل شي. یو به د قبیلې د سړو او بله به د قبیلې د ښځو لخواو. دوی د قبیلې له مړو څخه مرسته غوښته. دوی په ټولنه او مړو دومره باور درلود چې په ځینو دینونوکې به یې هغوی ته پیغام استوه. لکه چې د قبیلې رئیس به مریې راوغوښت هغه ته به یې پیغام ولوست او بیا به یې د مریي سر پرې کړ.

که چیرې په هغه پیغام کې به د قبیلې رئیس څخه څه هیر شوی و، بل مریې ته به یې ویل او د هغه سر به یې پرې کاوه. لکه چې له دې لارې به یې مړو ته خپل پیغام استوه.

دا ټکی د زوی والی په عواطفو پوری تړلي و چې په هغه کې له مړي څخه د ډار نه، دمړی سره په مینه او دمړي په ستاینه او آن دمړی پالنه واوښتل.

نو ځکه زموږ پیغمبر حضرت محمد(ص) فرمایلي چې له اوو ځیزو نو څخه چې باید خلك ترې ځان وساتي یو هم د نفس وژل او کوډګرۍ ته رجوع کول دي. ځکه چې کوډې د وګړو تر منځ د نفاق، فتنې او بدګمانۍ سبب ګرځي.

## ۳ – د فال او طالع کتل Astrology:

د فال او طالع کتل Astrology یو فن دی چې ګویا د انسان په سرنوشت یا برخلیك باندې دی لمریز نظام د سیارو او نورو آسماني اجرامو حرکات او سکنات مستقیمه اغیزه لري.

www.libtool.com.cn

فال لیدونکي او طالع کتونکي (Astrologers)، تر ټولو زیات د لمر، سپوږمۍ او پنځه ګونو سیارو، لکه (زحل، مشتري، عطارد، زهره، مریخ) دبشر په سرنوشت باندې د اغیزې باور لري. البته دلمر او سپوږمۍ ځایول د نورو سیاراتو په کتار کې، ښایي د دوی له پخوانیو فکرونو څه منځته راغلې وي، چې ځمکه هواره او دریدلي ده او ټول سیارات دلمر او سپوږمۍ په ګډون د ځمکې شاوخوا ګرځي.

فال کتونکي چې ځانونو ته نجومیان هم وایي، هر کال، میاشت، اونۍ، ورځ او ساعت یووه اوه ګونو سماوي اجرامو ته منسوبوي او هر یوه ته د ځانګړي خواصو قایل دي، لکه ښه او بد خواص، تودوخه او سوړوالی، اوبه او اور، بادي او خاورې، ښۍ او کیڼ، ختیز او لویدیز، جوهري او عرضي او نور.



د کابل ښار د شاه دوشمشیره(ع) د لویدیځې په څنډه کې یو فال کتونکی او د هغه دوه تنه مشتریان.

فال کتونکي زیاتره په بېلا بیلو ډولونو سره فال ګوري، دښه او بد، ښایسته او بدرنګوالی د غمر اندازه، د روغتیا او ناروغیو په راتلونکي

ژوندکې وړاندوینه کوي، یوه لار د افرادو برخلیك په دولس ګونو میاشتو پورې تړل دی چې د هرې میاشت له مخې د عمر اوږدوالی، زیږیدنه، واده د اولادونو شمیر، د استعداد او ذکاوت اندازه، ښه اوبد کاري، حتی د ثوابونو او ګناهونو اندازه په خلکو کې وړاندوینه کوي.

**معمولاً فال بینی په څلورو ډولونو کیږی:**

ج: د زیږیدنې د وخت پر بنسټ.

ب : د جدولونو پر بنسټ.

ب : د نوم اود مور نوم د حساب پر بنسټ

د : د شګون پر بنسټ.

**الف: د زیږیدنې دوخت پر بنسټ د فال کتل:**

دا ډول فال کتل په مختلفو هیوادونو او په ځینو مجلو، ورځپاڼو او کتابونو کې لیدل کیږی چې دهغې پر بنسټ په ځینو کتابونو او فالنامو کې وړاندوینه کیږي چې د هرې میاشتې زیږیدونکی ته په بیله توګه تلقین کیږي.

**ب : د نوم او د مور نوم دشمیرنې په بنسټ د فال کتل:**

په دې ډول فالنامو کې دشخص اودهغه دمور نوم د ابجد په حساب شمیرل کیږي او د دولس ګونود طرحې څه وروسته هر عدد چې پاتې شي د میاشتې د اول څخه تر دولس ګونو میاشتو پورې چې دهرې میاشتې سره منسوب کیږی او وړاندوینه د هغې میاشتې په اړوند کیږي.


دا ډول فال لیدل په نړۍ کې د لیك له پیدا ښت سره اړیکي لري او د لیك لوست له پیدا ښت څخه وروسته منځته راغلي دي.

www.libtool.com.cn

دا چې تر اوسه د لیك په نړۍ کې پیدا کیدنې سم تاریخ جوت ندی، مګر د لیك پخوانۍ نمونې دبین النهرین (اوسنی عراق) څخه لاسته راغلي دي چې په یوه روایت ۳۳۰۰ ق م او په بل روایت (۵۵۰۰ ق م) پورې تړل کیږي او د بشریت د تاریخ د پیل ټکی بلل کیږي. ممکن بشر په راتلونکې کې ددې تاریخ څخه مخکې آثار هم لاسته راوړي، لکه چې په دې هکله د لرغون پوهانو څیړنې دوام لري او هغه وخت به د تاریخ مبدا نوره هم مخکې لاړه شي، خو تراوسه پورې فنیقیان لومړني قومونه وو چې لیك یې ایجاد کړ. وروسته هندوانو، پارسیان، یونانیانو او آتنیانو هغې ته وده او پراختیا ورکړه او د لیکنې نوې لارې یې رامنځته کړې.

په دې ترتیب په هر مدنیت او هر هیوادکې د لیك ډول ډول بڼې منځته راغلي چې ځینودمدنیتونو له ودې سره سم هغوی وده او پراختیا وموندله او کله کله د مدنیتونو د ړنګیدنې سره هغه هم له منځه تللي او پاتې شوي نښې تر اوسه نالوستل شوی پاتې شوي دي.

ددې لیکونو له ډولونو او شکلونو څخه یو هم هغه دي چې په ځینو کتیبو او د لرغون پوهنې په آثارو کې لاسته راغلي دي چې د رمز او راز په بڼه تر اوسه نه دي پیژندل شوي، حتی ددې اشکالو او صورتونو ځینو د فال لیدلو کتابونو ته لاره موندلي ده او ځینې فال لیدونکي او تعویذ لیکونکي، ددې په ځای چې د هغې معنا او مفهوم ته پاملرنه وکړي، له هغوی څخه د طلسم دشکل په نامه یادکړی اود هغو څه کاراخلي. په لاندې ډول ستاسو پام هغه منتخب طلسم نمونې ته راګرځو و چې د میرداماد کبیر دکتاب د (۱۵۲) مخ څخه مو تاسې ته غوره کړی دي چې د هغه لیکل د هوسۍ (آهو) پر پوستکي او یا پر سره زرو باندې دمحبت او دوستۍ دزیاتوالي لپاره ډیره مفید او موثره ګڼل شویدي:



داسې ښکارې چې د دا ډول ټکو. کلمو او شمیر لیکل. ښایې چې د ځینو اعمالو. کړنو او خبرو د عمل لپاره یو هدایت یا راپور وی او یا د مدحیه او مرثیه د احکامو او فرمانونو احتمال دی چې اوس فال لیدونکی او تعویذ لیکوونکي په غلط ډول د خوړلو. لوګي کولو. خښولو او یا باد ته د سپارلو په هکله توصیه کوي.


په لنډ ډول له هغه وخته چې جوته نه ده چې لیك پیدا شوی په هغه کې څه بدلونونه راغلي دي چې ادبیات او نور فرهنګی میراثونه د لیکولو په واسطه د ورکوالی څخه ساتل شوی دي.

د لرغونو وختونو څخه لاسته راغلي کتیبو څخه جوتیږی چې لیکل لومړی په تصویری شکل و. کله چې د خط لیکل پیل شول کاهنانو او د ځینو مذهبونو مشرانو د هغه سره ډیر مخالفت کاوه او هغه یې د ضرر او فساد د بنسټ ګاڼه. مګر ډیر وخت تیر نه شو چې په خپله کاهنانو د لیك کتبې وپیژندلې او د هغه زده کړې ته یې ملا وتړله. حتی لیکل او لوستل یې په خپل انحصار کې راوستل تر څو چې وروسته یوه ډله د راویانو. مداحانو او منشیانو رامنځته شوه چې د پاچاهانو او شهزاده ګانو دژوند. کارنامې اومیړانو په هکله ستاینې وکړي. او ورو.ورو نجومیانو. فال کتونکو او طالع لیدونکو هم دربارونو ته لاره ومونده. په دوی کې فال

کتونکي او طالع ليدونکي شاهانو ته داطلاع ورکوونکو په توګه څرګند شول چې په مختلفو دوروکې دمختلفو نظامو دټينګښت او دوام سبب شول.

تر اوسه پورې په نړۍ کې فنيقيانود ليك او خط د بنسټ ايښودونکو په توګه، خبرې په (۲۸) ټکو وويشلې او دهر ټکي لپاره يې ستورې او د هر ستورې له پاره يې يو شمير وټاکه او د هر يوه ستوري دځانګړتيا و په منلو سره ټول په افرادو پورې اړوند ښه او بد اعمال، کيدونکي او نه کيدونکي، د وړاندوينې وړ وبلل.

همدا ډول ستاسو پام هغه منتخب نقش ته راګرځوو چې د طم طم هندي د کتاب د (۱۱۸) مخ څخه مو تاسي ته غوره کړی دی چې د هغه ليکل پر سره زرو باندي دمحبت او دوستي د زياتوالی لپاره ډيره مفيد او موثره ګڼل شويدی:



فنقيانو دهرحرف له پاره درې ډوله اعداد قايل وو چې عبارت دي د سترو اعدادو(ابجد کبير) ووړوکي اعداد(ابجد صغير)چې د دولس (۱۲) دطرح څخه لاسته راځي. وسيط اعداد چې دهر حرف ځای په جمله کې په ډاګه کوي.

په لاندې جدول کې د ابجد د حروفو دایره لیدلای شي:

| د ابجد د حروفو دایره (نظیرهء ابجدی) | وسیطه اعداد د ابجد و دایری سره سم | کبیره ابجد | صغیره ابجد |
|---|---|---|---|
| ا | ۱ | ۱ | ۱ |
| ب | ۲ | ۲ | ۲ |
| ج | ۳ | ۳ | ۳ |
| د | ٤ | ٤ | ٤ |
| هـ | ٥ | ٥ | ٥ |
| و | ٦ | ٦ | ٦ |
| ز | ۷ | ۷ | ۷ |
| ح | ۸ | ۸ | ۸ |
| ط | ۹ | ۹ | ۹ |
| ی | ۱۰ | ۱۰ | ۱۰ |
| ك | ۱۱ | ۲۰ | ۸ |
| ل | ۱۲ | ۳۰ | ٦ |
| م | ۱۳ | ٤۰ | ٤ |
| ن | ۱٤ | ٥۰ | ۲ |
| س | ۱٥ | ٦۰ | ساقط |
| ع | ۱٦ | ۷۰ | ۱۰ |
| ف | ۱۷ | ۸۰ | ۸ |
| ص | ۱۸ | ۹۰ | ٦ |
| ق | ۱۹ | ۱۰۰ | ٤ |
| ر | ۲۰ | ۲۰۰ | ۸ |
| ش | ۲۱ | ۳۰۰ | ساقط |
| ت | ۲۲ | ٤۰۰ | ٤ |
| ث | ۲۳ | ٥۰۰ | ۸ |
| خ | ۲٤ | ٦۰۰ | ساقط |
| ذ | ۲٥ | ۷۰۰ | ٤ |
| ض | ۲٦ | ۸۰۰ | ۸ |
| ظ | ۲۷ | ۹۰۰ | ساقط |
| غ | ۲۸ | ۱۰۰۰ | ٤ |

www.libtool.com.cn

باید یادونه وکړو چې الجبری دایره. مختلفو دلیلونو او ذهغې له جملې د نقشونو لیکل، د نورو دایرو استخراج، لکه ابتث، اهطم او نورو دایرو د پوښتني ځخه د ځواب استخراج (د سوال او ځواب طریقه) تر ټولو ډیره استعمالیږي... چې د فال لیدونکو او طالع کتونکو تر منځ د جفر په نوم

هم بلل کیږي. چې انشا الله په یوه بیله رساله کې به د جفر او رمل د فن په هکله ستاسو حضور ته پوره معلومات وړاندې شي. د یادونې وړ ده چې مختلفې دایرې لکه د ابتث او اهطم دایرې په مختلفو وختونوکې د مختلفو مقصدونو له پاره استعمالیږي چې دلته په دې لنډه لیکنه کې نه ځائیږي.

## ج ـ فال لیدل او طالع کتل د جدولونو پر بنسټ:

له مراجعه کوونکي څخه غوښتل کیږي چې خپلې سترګې وتړي او بیا ګوته په هغه جدول چې فال لیدونکی په کتاب کې ورته ښیی کیږدي.

بیا فال لیدونکي هغه پرګرافونه چې په کتاب کې شته، لولي. بیا څو جملې چې په هغه کې تیر وخت او راتلونکي، ډار او هیله په کې لیکل شویدي، مراجعه کوونکی ته لولي. راز راز ژمنې په مختلفو تعویذونو سره ورکول کیږي او روپۍ ترې اخلې.

## د- د شګون پر بنسټ د فال او یا طالع لیدل:

په ډیرو ټولنو او ملتونو کې راز راز شګونونو وجود لري. لکه زموږ په هیواد کې په ځینو کورنیو کې دا شګون دی که چیرې چوغکه (عکه) د چا کور په بام او یا دیوال کیني، د ښه خبر زیري یې بولي او یا دا قاصد هم د ښه خبر ښه بولي. خود بوم (کونګي) او یا د کارغه راتلل د کور بام ته بد شګون ویل کیږي. یا د نوکانو جنګول،د کیلیو ښورول د جګړې شګون بلل کیږي یا د سپي قوله ایستل د دوستانو دمړینې نښه بلل کیږي یا د ښي لاس د ورغوي تخریدل د پیسو لاسته راتلل او د کیڼ لاس دورغوي تخریدل د پیسو د تللو معنا لري. د ښی پښی تخنیدل په سفر د تګ شګون اود کیڼې پښې تخنیدل د چا د مړینې شګون دی.

www.libtool.com.cn

یوه بله ډول فال لیدل په ځینو هیوادونو کې هم رواج لري. فال لیدونکی یو الوتونکی روزي، کله چې هغه پرېږدي په هغه قفس کې چې فالنامې د پاکټونو سره ایښې وي، الوتونکی یو پاکټ راباسی وروسته فال لیدونکی هغه لولي. او له مشتری څخه پیسی اخلي.



www.libtool.com.cn

د زرنګار پارك په لویدیځه څنډه کې د الوتونکی په واسطه فال کتل:

په دی ډول ځینی خلك دا نښې فال لیدل بولي. معمولاً کله چې خلك ناهیلی وي، نو فال لیدلو ته هم کله کله مراجعه کوي. او له فالبینونو څخه مرسته غواړي، خو اکثره عالمان او پوهان فال لیدل ناوړه او د ساده ګۍ عمل ګڼي.

د حضرت محمد (ص) په یوه حدیث شریف کې راغلي دي: څوك چې فال لیدونکی ته ورشي او له هغه څخه د څه پوښتنه وکړي، څلوېښت شپې د هغه لمونځ نه قبلیږي.

## ۴ – دعا، تعویذ لیکل او فال لیدل نه دي:

دعا په حقیقت کې د عجز او ناتوانی د اظهار یوه غوښتنه او هیله ده د مخلوق له خوا د خالق په وړاندې له مصیبتونو څخه د خلاصون، د ژوندانه د کړاوونو لرې کیدل، د اړتیاو پوره کیدل، د نیوی او اخروي ژوند د ښه والي او د پروردګار په وړاندې د عاجزۍ ښکاره کول دي چې په ټولو مذهبونو او دینونو کې دعا شته، د اسلام په سپیڅلي دین کې دعا یوه فریضه، وجیبه او د لوی څښتن د پیغمبر سنت او د اولیاؤ طریقه ده. څښتن تعالی په خپل کتاب قرآن مجید کې فرمایي:

((الله (ج) ډیر یاد کړئ، تر څو تاسو رستګار شئ)).

سوره مبارك الجمعه (۶۲)/۱۰

رسول اکرم حضرت محمد (ص) فرمایلي دي:

((په تحقیق سره چې دعا عین عبادت دی.)) او بیا ټینګار کوي: ((د هیڅ شی بې له دعاڅخه خدای (ج) ته زیات محبوب ندي)).

په دعاکې ډیر حکمتونه شته دي‌چې په هغه کې د بشر خیر او آسوده ګی پـټه ده. دعا د انسانانو یوه ذهني او دزړه پناه ده له ناهیلیو څخه د ژغورنې له پاره.

د اسلام په مبین دین کې د دعا له پاره ځانګړی آداب او شرایط ټاکل شوي دي، لکه چې راغلي دي. (کله چې بنده ووایي یا ربه، حق تعالی وایي لبیك عبدي. که دده په دې کار کې خیر وي، ځکه چې لوی خدای (ج) د

خپلو بنده ګانو په خیر بنه پوهیږي. او هغه په خپله اراده او صلاح کې موقوف ګڼي.

دعا باید د عالمیانو د پیداکوونکي د رحمت ځانګړې نظر ته وي.

د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) څخه روایت دی: کله چې سوال وکړئ (دعا وکړی) خدای تعالی ته، د دواړو لاسونو په ورغو کې وغواړی نه د لاسونو په شا، کله چې ددعا څخه خلاص شوئ، دواړه لاسونه مخ ته یوسئ. د دعا په مهال بني او کینې خواته مه ګورئ او په زړه کې بې ځایه اندیښني مه کوئ، لاسونه مه ښوروئ، بل ځای ته مه ګورئ، غږ مه پورته کوئ، په دعاکې عاجزي او زاري وکړئ او دعا وکړئ چې خدایه! هر څه چې غواړم ماته يې عنایت کړه زما په آسوده ګۍ او ستا په رضا. ځکه چې په هر نعمت کې چې د تا رضا او د بنده آسوده ګي پکې نه وي، بلا ده او ناروغي.

لکه چې د هیواد شاعر او فیلسوف نظامي ګنجوی وایي:

*رهی پیشم آور که انجام کار تو خشنود باشی و ما رستګار*

دعا کوونکی باید په لوی خدای او د هغه په پیغمبر بشیر ایمان ولري، پرهیزګاره وواسي، حلاله روزي وغواړي، دروغ ونه وایي. د بې لارو کسانو ناسته ونه لري، توبه استغفار او درود ووایي. غیبت ونه وایي. په اوداسه وي. له کینې څخه ځان وساتي. عاجز واوسي. د خدای دربار څخه قوي هیله ولري. چې پاك خدای د دعا منونکی او د اړتیاوو پوره کوونکی دی او هیڅکله مخلوق له خپل رحمت څخه نه ناهیلی کوي.

متأسفانه لیدل کیږي چې یو شمیر خلك په ځانګړي ډول ښځې، د ستونزو د لرې کولو له پاره زیاتره فال لیدونکو او کوډګرو ته ورځي او له

هغه څخه د مرستې غوښتنه کوي چې ددې ناروا او بدکار له امله د دوی په عقيده کې تاوان، د وخت تيريدل او د پيسو د لاسه ورکولو سبب کيږي.

د اسلام په مبين دين کې لمونځ ډيره ستره دعا او د خالق او مخلوق تر منځ د راز او نياز لنډه او څرګنده اړيکې بلل کيږي.

قراني آيات او د پاك خدای نومونه او بې شماره صفتونه ټول د نه پای ته رسيدونکی د حقانيت، دبدبه او لوړتيا لرونکي دی چې د افرادو دناروغيو څخه د روغتيا او بدمرغيو څخه د ژغورنې ښه وسيله ده. هر څوك کولای شي له هغه څخه استفاده وکړي او په اخلاص سره هغه ذکر کړي اودخپلو هيلو او اړتياو پوره کول د عالميانو د پيداکوونکی څخه وغواړي.

لنډه داچې دعا د عبادات لنډيز، د مؤمن وسله، ددين متيه او د آسمان نور په ځمکه کې دي.

دا لازمه ده انسان هر څه چې غواړي، له لوی خدای څخه يې وغواړي، چې د دنيا او آخرت مالك او الرحم الرّحمين دی. لوی الله فرمايلي دی: ((زماڅخه وغواړئ، چې ستاسو غوښتنه او دعا قبوله کړم)) رسول اکرم(ص) په حديث شريف کې فرمايلي چې معنا يې داده:

((بې له شکه ستاسو رب حياکونکی او کريم دی، کله چې بنده ددعا لاس ورته پورته کوي، حياء کوی چې د خپل بنده تش لاس پريږدي))

او بيا هم فرمايي:

((څوك چې دعا نه کوي، لوی خدای له هغه څخه ناراضه کيږي)).

له نبوی ارشاداتو سره سم د اړو، نادارو بې کسو، مظلومو او ځوريدلو اشخاصو دعا که کافر هم و اوسي زر قبليږي . همدارنګه دمور او پلار دعا اولادونو ته، د عادل حاکم دعا، د صالح او نيك خويه اولادونو دعا، د مسافر دعا، د روژه نيوونکي دعا د روژه ماتي په وخت کې، اود هر نيك

سرې دعا زره قبليږي. (انشا الله.) نو ځکه هر کار بايد د لوی خدای د نوم په يادولو پيل کړو او د لوی خدای څخه مرسته وغواړو او بې له خدايه بل هيچاته هيله من ونه اوسو او هيڅکله له لوی خدای څخه هيله پرې نه کړو. تر څو بريالي او نيکمرغه شو.

داسمه ده چې دعا د قرآن آيتونو په لوستلو او د لوی خدای د نومونو په اخيستلو سره ځانګړې اهميت لري، ځکه چې قرآن کريم جامع او کامل آسماني کتاب، کلي قانون او آسماني لارښوونې دي چې نه يوازې د مسلمانانو د لارښوونې، بلکې د بشر د ټولو افرادو د هدايت او لارښوونې له پاره نازل شوی دی. او بې شکه د لوی خدای (ج) کلام دی.

مګر د کاغذ په ټوټو په ټوکر او پوستکي باندې د قرآني آيتونو ليکل، د روپيو د تر لاسه کولو د پاره مردود دی، ځکه چې له يوې خوا د کلام الله مجيد د آيتونو ساتل د تعويذ په شکل مشکل او له بلې خوا د پيسو او اجناسو اخيستل د قرآن په وړاندې بې احترامي ده. همدارنګه د کاغذ په ټوټو، ټوکر اود حيواناتو په پوستکو د عددونو او شکلونو ليکل د تعويذ او طلسم په نامه له خلکو څخه د روپيو د تر لاسه کولو له پاره غير تګې برګې څه بل څه نه دي.

ښايي تاسې ليدلي وي چې فال ليدونکي کوډګر او تعويذ ليکونکي څو عامې جملې ټولو ته تکرار وي، مثلاً سفر دې په مخکې دې، مفلس او پوروړی يې، مساپر لرې چې ډير وخت يې ليك او احوال درته نه دی رسيدلی، ناروغ لري، دښمن لري، چې ستا وينو ته تږی دی؟ په تايې کوډې کړي دي. او څه يې په تا خوړلي دي، بې مالګې لاس لرې، د چا سره چې نيکي کوې هغه له تاسره بدي کوي، له چا سره چې مينه کوې هغه د ستا په وړاندې بې توپيره دی... سختې کوډې يې کړي چې بايد وايستل شي. او

داسې نور چې ډېر خلك او په ځانګړې ډول ښځې د فال لیدونکو او تعویذ لیکونکو په دې جملو تیروځي او په دې لاره کې ډېرې روپۍ لګوي او هم د ځینو دوکه بازانو له ناوړه چلند سره مخامخ کیږي.

یو دوست مې دی خواجه صاحب چې رښتینی، نیك خویه، د مطالعې او قلم خاوند هم دی، یوه ورځ یې نکل کاوه چې یو ځل زه دغه ډول فال لیدونکی ته په پیښور کې ولاړم چې دجادو په فع او ایستلو کې یې نوم ایستلی و. او هغه فال لیدونکی ده ته هم ویلي وو چې په ده هم کوډې شوي، دی پنځه سوه روپۍ یې ترې غوښتې وې چې خښې شوی کوډې وباسي. زما دوست وایي چې زما له پاره په زړه پورې وه چې دا فال لیدونکی په دې تېرې (غرفه) کې دده د کوره به څنګه کوډې وباسي.

دی فال لیدونکي ته ویلي وو چې د پنځه سوه روپیو په ځای زر روپۍ واخله او کوډې سمدلاسه وباسه. فال لیدونکی دده او د هغه د مورد نوم دلیکلو وروسته دوې ورځې وخت وغوښت چې دهمغه اوونۍ د چار شنبې په ورځ ورشي، تر څو کوډې په خپل کورکې د خواجه له کوره وباسي.

ددې دوست په خبره: په همغه ورځ فال لیدونکي ته ورغلم وروسته له ډېر انتظار څخه فال لیدونکی له ده څخه هیله کړې وه چې هر څه ویني مه ډاریږه او له ځایه مه خوځیږه او بیا فال لیدونکي د سر او شونډو په ښوررولو پیل وکړ او وروسته ده ولیدل چې غرفه دزلزلې په ډول وخوځیده. دهغه په وینا مافکر وکړ چې زلزله وشوه او باید څوګامه له غرفې څخه ووځم، کله چې دغرفې څخه مې سر راوویست ومې لیدل چې غرفه د یوه لرګي په سر ولاړه ده او یوه ښځه د غرفې په ښوررولو لګیا ده، په دې شیبه کې هغه تعویذ چې نوموړی فال لیدونکي په غرفه کې په لوړ ځای کې ځای په ځای

www.libtool.com.cn

کړي و، غرفې ته راولوید. فال لیدونکي وویل چې: تعویذ یې حاضر کړی دی، په هغه وخت یې پنځه سوه روپۍ شریني یې هم وغوښته.

بایـد وویل شي چې د خلکوسره دا ډول ټګۍ برګی کیږي او د بلې خوا د خلکو تر منځ دبې اتفاقۍ او دښمنۍ تخم کرل کیږي. چې دا یو غیر اخلاقي غیر انساني کار دی هغه هم دخلکو له جیبونوڅخه د روپیو دتر لاسه کولود پاره.

خلك دې ښاغلو ته وايي که چېرې دومره پوهیږي چې د خلکود حال په اړه له غیب څخه خبرې کوي او دخلکو له کورونو څخه کوډې وباسي مهرباني دې وکړي سترګې دې دخلکو لاوسنواو جیبونو ته نه نیسي د ځمکی د لاندې څه خزانې راوباسي، چې دا کار هیڅکله د دوی د لاسه پوره نه دی.

لوی خدای (ج) فرمایلي دي:

*((ووایه بې له خدایه(ج) هیڅوك په آسمانو اوځمکه کې نه شته چې په غیب پوه شي)).*

د النحل مبارکه سوره، ۶۵/۲۸

خو لکه چې لیدل کیږي چې فال لیدونکی، د ورغلی سړي د بیان او کلمو ډول ته پام کوي، دده په هدف او مقصد ځان پوهوي او د هغه د تیر ایستلو له پاره د وګړو دتیرو وختونو عام او کلي مسایل بیانوي، لکه سخته ناروغي دې تیره کړې ده، یو خطر دربانـدې تیر شوی دی او داسې نور یو شمیر کلي او عمومي خبرې ورته د وړاندوینې په توګه کوي، لکه سفر او یامعامله دې په مخکې ده چې په هغه کې به تاوان وکړې یا یومشکل لرې چې چاته یې ویلای نه شې، لازمه ده چې د خلاصولو یو تعویذ واخلې.

www.libtool.com.cn

وايي چې په فرانسه کې د شپاړسم لويي په وخت کې د يو فال ليدونکی وړاندوينه، غلطه راوتي وه او پادشاه پرې ډيره خفه شو. شپاړسم لويي امر وکړ چې هغه فال ليدونکی دربار ته راولي او هم يې خپل عسکرانو ته ويلي و چې د شاه په ايشارې سره هغه له پنجرې څخه د باندې وغورځوئ. فال ليدونکی يې حاضر کړ،شپاړسم لويي له ده څخه وپوښتل، ته پوه فال ليدونکی يې، ته ووايه چې څه وخت به مړ شې؟

فال ليدونکي دده د خبرې له ډول څه پوه شو چې خامخا کوم خطر شته، نو يې ورته وويل: درې ورځې له اعلحضرت څخه مخکې.

پاچا اريان پاتې شو، دده له وژلو څخه يې منصرف او امر يې وکړ چې دده د ساتلو ټول وسايل ورته تيار کړئ.

له يوه فال ليدونکي نه يې پوښتنه وشوه چې دا کرښې، نقشې او شميرنې چې په کاغذ لوښي يا د چرګې په هګۍ ليکلې، څه راز په کې دی او څه اغيزه لري؟

فال ليدونکي وويل:

ښايي نه څه راز وي او نه کوم اغيزه ولري. خو که مراجعه کوونکی ناروغ وي او په تصادفي ډول ښه شي، زموږ بازار هم تود يږي او که مړ شي، فکر کوي چې دمرينې وږو، که کورني مشکلات ولري او هغه پوره شي، فکر کوي چې زموږ تعويذ اغيز من وو. او که مطلب يې پوره نه شو، پس له ډيره وخته وروسته چې مونږ ته ګټه او پيسې ورسيده هغه وخت هم ګيله نه کوي او چاته خپل راز هم نه شي ويلای.

www.libtool.com.cn

## ۵ – ورغوي پيژندنه (Palmistry):

ورغوي پيژندنه هم ډيرو فال ليدونكو د ګټې كولو او دوكې يوه وسيله ګرځولې او حقايق له نورو څخه پټوي. ورغوي پيژندنه په دې ولاړه ده چې د سړي لاس دده دصفتونو او استعدادونو ښودونكى دي د دوى په نظر د هر سړي په ورغوي كې داسې نښې شته چې دنورو په لاسونوكې نه شته، كيداى شي په هغه سره دسړي اعمال اخلاق او د استعداد درجې، د كړښو او نښو په ليدو سره پيدا كړي.

ددې فرضيې په بنسټ په ځينو اروپايې هيوادونو كې د ډاكتيلوسكوپى Dactyloscopie مركزونه جوړ شوي دي ډاكتيلوسكوپى د سړي د لاسونو او پښو د ګوتو په وسيله دهغه پيژندل دي، خو ددې مركزونو كار هم تر اوسه كومه نتيجه نه ده وركړې او ورغوي پيژندنه تر اوسه په بې لارې روانه ده.

وايي چې: يو ورغوي پيژندونكى يې د يو ماشوم درملنى ته بوت، ده د ماشوم ورغوى يوه خوا او بله خوا وكوت، نقشې او عدونه يې وليكل او وړوكي ماشوم ته يې وركړل چې ويې خوري، په ډار يې د هغه مخ پټ كړ او پورته شو.

د ماشوم مور او پلار ته يې وويل چې ماشوم روغ شوى دى اوبه دې چال او دوكه يې تولـه كورنۍ ډاډه كړه، ډيرې پيسې يې واخيستې او په چټكۍ له كوره ووت.

مور او پلار له فال ليدونكى سره دمخه ښې نه وروسته ماشوم ته ورغلل او دمخه يې خادر لرې كړ ويې ليدل چې ماشوم مړ شوى دى او فال ليدونكي بې ځايه له دوى څخه روپۍ اخيستې وې.

لكه چې ليدل كيږي يو شمير ورغوي پيژندونكي ځيني كرښې او نښې دعمر د اوږدوالي، دزامنو دشمير، كسب او كار، د ناروغيو څرنګوالي او

روغتيا د سفرونو موده او دوګړو د ژوند ځينې اړخونه بولي، مګر نشي کولای چې دلاس اوپښود فرضي کرښوپه بنسټ د انسان او د هغه دکورنۍ د چاپيريال ټول ژوند وځيري.



ورغوي پيژندنه د کابل د ښار په بېلا بيلو برخو کې د ډوډۍ تر لاسه کولو يوتفنني کسب ګرځيدلی دی.

که چېرې د خلکو د ژوند ټول حال د لاسونو او پښو د کرښو په لوستلو سره پيژندل شوی وای، نو بايد دژوندانه دټولوپيښو او مړينې په هکله په وړاندوينه کې هيڅکله سهوه ونه شي. مګر لکه څنګه چې ګورو: د ټولو پيښواو مړينې په هکله په وړاندوينه کې هيڅکله د بل سړي سره يو شانته ندي په دې ورځې په لس ګونو پيښې په نړۍ کې کيږي، مثلاً د يو الوتکې په لويدلو سره په لس ګونو سوارلي په کې وژل کيږي يا د زلزلې په پيښه

کې په سل ګونو کسان مړه کيږي، آيا د دوی د لاسونو او پښې کرښې يو شانته دي، چې ټولو په يوه پيښه کې ځانونه د لاسه ورکړي وي؟

دې پوښتنوته ځواب، ډيرو څيړنو ته اړتيا لري چې دلته نه ځائيږي. خو يوه ټکي چې مهم دی هغه دا چې د مترقبه او غير مترقبه واقعاتو او د وګړو ځينې جسمي او رواني حالات د انسان د پوست د نښو سره بې اړيکې نه لري، چې د لاس او پښو کرښې يو له دې ځخه دي. ښايي په لرې راتلونکي کې دهغو اړيکې د افرادو د جسمي او رواني ژوند سره په قانون مند ډول وڅيړل شي. تر هغه وخته پورې د هر بې سواده په وړاندې د لاس نيول ښه کار نه دي.

## ۶ – د ستورو علم يا نجوم (Astronomy):

دا علم د بشري پوهنو ځخه يوه زړه پوهنه ده چې د رياضي، فزيك او نورو مرستيالو علومو په مرسته د لمريز نظام او نورو آسماني جسمونو د معيارو خوځيدنې او اوسيدنې تشخيص او تثبيت کړي.

د نجوم علم د ځينو کسانو په خلاف، چې فکر کوي د وګړو له برخليك سره اړيکې نه لري او د ساينس (مثبته علومو) په کتار کې دريږي.

پخواني بابليان د نجوم د علم بنسټ اينبودونکي دي او په هغه کې يې ډير پرمختګ هم کړی دی. دوی د ستورو ځايونه په آسمان کې اټکل کړي اود سپوږمۍ، لمر د خوځيدنې نقشه او د لمر نيولو (کسوف) او سپوږمۍ نيولو (خسوف) حالات يې رسم کړل او د لومړي ځل له پاره يې ثوابت اوسيارات هم سره بيل کړل.

www.libtool.com.cn

ثوابت د لمر په شان آسماني لوی اجسام دي چې رڼا او تودوخي لري او نور آسماني اجرام، لکه سيارات.سپوږمۍ، ذوات الاذناب (نيبولا) يې په شاوخوا ګرځي او هغوی ته رڼا او تودوخي ورکوي.

سيارات، لکه ځمکه هغه لوی آسماني اجرام دي چې په خپله رڼا او تودوخي نه لري نوراو تودوخي له ثوابتو څخه (لمر) اخلي او په ټاکلو مدارونو کې د ثوابتو په شاوخوا ګرځي. سپوږمۍ هغه واړه سماوي اجرام دي چې د سياراتو په شان رڼا او تودوخي نلري او دسياراتو په شاوخوا راګرځي.سپوږمۍ نور او تودوخي د ثوابتو (لکه لمر) څخه اخلي.

ذوات الاذناب يا شهاب ثاقب چې خلك ورته د شيطان کاڼي هم وايي، کوچني اجرام دی چې دکائيناتو په لايتناهی (نه تماميدونکي) فضا کې په حرکت کې دي، د هغوی دجسم دکوچنی والی له امله ځینی په ثوابتو او ځینې سياراتو او سپوږميو ته جذب کيږي.

نيبولا يا ګرد او غبار چې په کائيناتو کې په حرکت کې دي، ځینې دنور او اور لرونکي کرې او ځینې بيا نور او تودوخي نلري او په حرکت کې دی.

پخواني بابليان په دې باور وو چې ځمکه دلمر شاوخوا او سپوږمۍ دځمکې په شاوخوا ګرځي، نو ځکه دوی کال په دولس قمري مياشتو او مياشت په څلورو اونيو او اونۍ په اووو ورځو او شپه ورځ يې په څلرويشتو ګړيوويشلي وه. بيا بليانودايره په ۳۶۰ درجو او هره درجه يې په ۴۰ ثانيو ويشلې وه.

پخوانيو بابليانو لومړنی د اوبو او د لمر ساعتونه اختراع کړي وو. (اختراع په دې معنا چې پخوا داسې څيز جوړ کړی نه وی او اکتشاف په دی معنی چې پخوا داسې څيز پيژندل شوی نه وي)

www.libtool.com.cn

د نجوم علم یا د ستورو علم Astronomy د تلسکوپ په اختراع سره ډېراهمیت او پیژندنه پیدا کړه.

تلسکوپ له یوناني کلمو، تله د لرې په معنا او سکوپین د لیدلو په معنا دی. نوځکه تلسکوپ یوه لرې لیدونکي قوي آله ده چې دهغې په واسطه کیدای شي سماوي اجرام په لرې واټن کې په ښه ډول سره ولیدل شي.

تلسکوپ مختلف ډولونه لري. لومړنی تلسکوپ د هانس لیپرش له خوا په (۱۶۰۸) م کې جوړ شوی دی. او په (۱۶۰۹) ایتالوی ګالیله یو ډول تلسکوپ جوړ کړ چې شیان به یې (۳۳) واري لوی ښودل. ګالیله د خپل تلسکوپ په مرسته ډیر سماوي اجرام، لکه دسپوږمی سطح، د مشترې د سیارې سپوږمۍ، سحابی کهکشان او نور مطالعه کړل.

وروسته ځواکمن کمپیوټري تلسکوپونه جوړ شول چې اوس د نړۍ لوی تلسکوپ په انګلستان کې دی او د هغه قطر (۸۵) متره دی له دې ټولو اختراعاتو سره سره اوس دنجوم علم د نورو مثبته علومو په کتار کې ولاړ او دهر ډول طالع او فال لیدلو څخه لرې دی.

## ۷- تیاتر او مداریانو ټغر:

تیاتر د هند له څنډنیو هنري ننداړو او ښکلو هنرونو څخه ګڼل کیږي. ددې هنر تاریخ او پیدایښت د انسان له ژوند سره دځمکې په مخ یو ځای او په اوسنی وختونو کې له پنځه زرو کلونو څخه زیات لرغونی دی.

تیاتر په لرغونی یونان تقریباً دوه نیم زره کالو مخکې د ارزښتناك هنر په توګه څرګند شو، لکه چې د پخوانی یونان په ننداړو او د (خدای انګور) او وروسته د ARENA په نامه تیاتر په یوه غونډۍ کې جوړ شو او ننداړچیان

به د هغه شاوخوا کیناستل او ننداره به یې کوله او د لومړي ځل له پاره په همغه ځای باندې د تیاتر نوم کیښودل شو.

په دې ډول ننداړو کې د اسطورو (زړې کیسې) لوستل، شعرونه، تولنیز داستانونه او نور دنندارو په شکل و.

په ختیځو هیوادونو کې تیاتر مذهبي بڼه درلوده او په عمومي ډول مذهبي داستانونه او د افسانوي اتلانو میړانې په هغه کې بیانیدې.

تیاتر په افغانستان کې حتی په زړه او لرغونی آریانا (۲۵۰ م) کې موجود و، کله چې د آیخانم د کیندنو په نتیجه کې تیاتر جوت شو چې داخلي او بهرنیو مؤرخینو، لکه څنګه چې لازمه ده، د هغه په هکله خبرې کړې نه دي، خو کله کله ځینې مطلبونه چې په هغه کې غونډې، چې د لرغوني یونان تیاتر ته ورته و، لیکلې دي لکه د خلکو راټولیدل د ستایونکو (مداحان) په شاوخوا، سادوګان او مداریان او بیا وروسته په مختلفو ننداړو، لکه د کال د لومړي یا د نوې ورځ (نوروز) او نورو کې په افغانستان کې د تیاتر مختلف ډولونه څرګندوي. لکه چې مداریانو زموږ په هیواد کې د ډیره وخته په لیرډیدلو او ګرځنده ژوند کاوه چې ژمي کې به تودو سیمو، لکه: هند، پاکستان او یا اوړې کې به زموږ هیواد ته راتلل او خپلې ننداړې به یې ښودلې د شپیلۍ او ډولکي په وهلو سره به یې، لکه چې په هند کې هم رواج لري، خلك په ځان راټولول. او ننداړې به یې ښودلې. او له خلکو څخه روپۍ راټولولې. دا ننداړې زیاتره دخلکو د تیر ایستلو اود روپیو د راټولولو له پاره جوړیږي. زیاتره مداریان خپل شاګردان د (جمبورې) په نوم یادوي او د په زړه پورې خندونکو حرکاتو او الفاظو سره نور هم په زړه پورې کیږي.

www.libtool.com.cn

د ساري په ډول کله چې مداري غواړي يوه نوې ننداره جوړه کړي په شاګرد غږ کوي:

جمبوريه زويه!

جمبوري: څه استاذه.!

مداري: نوم دې څه دی؟

جمبوري: استاده نوم مې... دی

مداري: څو وروڼه لرې؟

جمبوري: درې وروڼه لرم.

مداري: څو خويندې لرې؟

جمبوري:درې خويندې لرم.

مداري: يوه خوردې ماته نه راکوې.

ټول حاضرين خاندي او جمبوري وايي:

نه استاده، د مور او پلار اجازه نه شته.

بيا مداري شوخي او ټوکې کوي او وايي:

څو مورګانې لرې؟

جمبوري: درې ميندې لرم.

مداري: څو پلرونه لرې؟

جمبوري: درې پلرونه لرم.

ننداره‌چيان خاندي په هغه مهال کې مداري په قهر او ښکنځلو سره وايي چې حلالي سړی درې پلرونه نه لري.

جمبوري: او، استاذه، غلط شوم يو پلار لرم.

معمولاً مداريان دځو ننداره په ښودلو سره د روپيو په راټولولو او د ځان سره د جوړ شوو دوا ګانو په خرڅولو پيل کوي او په نورو دورو کې

www.libtool.com.cn

تعویذونه په ډیر ستاینو سره چې په ننداړچیانو کې یې هم پلوی سړی موجود وی خرڅوي.

دمداریانو په زړه پورې ننداره هغه مهال ده چې په اصطلاح شپیلی یې بنده شي، یو دده له اندیوالانو او یاجمبوری چې په ننداړچیانو کې ناست وي او دعا کوي چې د مداري شپیلۍ یې بنده کړې ده.

په هغه وخت کې مداري په زاریو سره چې (د ماشومانو لرونکي یم، ولې مې ځوروې او زما شپیلۍ بندوئ) او یا دا چې په خپل ځان رحم وکړه او هغه وخت یو بل سره مسابقې ته رابولي او دخلکو څخه روپۍ غواړي.

معمولاً دمداریانو ننداره د منګور او خاپې (موشخرما) د جنګ په اچولو چې هیڅ کله یې نه جنګوي، پای ته رسیږي. د افغان مشهور شعبده بازانو په کتار کې د بیلګې په توګه د خاکیشاه مداري او محمد علي شناور نومونه اخستلی شو.

www.libtool.com.cn

دوهم څپرکی:

# ځيني تفنني ننداري او د هغو د سرته رسولو لاري (طريقي)

اصلاً شعبذه، شعبده او شعوذه د چل، د لاس چالاکي، ټګي، کوډي او سحر په معنا راغلي او د خلکو په منځ کې د سترګو دترلو په معنا هم راغلي ده.

شعبده د ډير پخوانۍ تفنني ننداري په توګه ګڼل کيږي چې دخلکو د شوخۍ او ساعت تيرى لپاره به تر سره کيدي.

د بشر د تمدن په تاريخ کې د شعبده فن د تياتر له فن څخه په زرګونه کاله مخکې منځته راغلي او په بيلا بيلو ټولنو کې رواج و چې زيات د پاچهانو، شهزاده ګانو، امپراتورانو په دربارونو کې د دوی د سرګرمی له پاره استعماليده. او ورو، ورو دخلکو دسرګرمۍ له پاره يې کوڅو ته هم لاره پيدا کړه.

اوس لږې داسې ټولنې شته چې هلته شعبده او تفنن وجود ونلري. د ښار او کليو دکوڅو څخه تر لويو سالونونو پورې، سينماګانو، تلويزيون، ويديو او حتی انټرنيټ ته يې هم لاره وموندله.

**په لاندي ډول ځينی تفنني نمايشونه اود هغه رازونه څيړل کيږي، تر څو چې لوستونکي کله چې د تلويزيون په پرده او يا فلمونو کې ګوري د هغه په رازونو پوه شي او دهغه علمي تجربې اوميخانيکی اړخونه له ياده ونه باسي.**


www.libtool.com.cn

## ۱ - کوډګره کتابچه:

د شعبده باز (لوبغاړي) په لاس کې یوه کتابچه وي. او داسې ښیې چې د ((فر)) په ویلو او ټکان ورکولو سره د میز، دیوال، اویا د کوم ننداره کوونکي په سر ټوله کتابچه سپینوي. او په دوهم ټکان کې بیرته لیکل شوي کتابچه ترې جوړه وي.


### د ترسره کولو لار او طریقه:

کتابچه چې څومره قطع او صحافت ولري، کیدای شي دا جادویي عملیه په هغه تر سره شي. معمولاً شعبده بازان جیبي کتابچه مناسبه بولي، هغه کتابچه چې نرم کاغذ، خط لرونکي او لنډه وي شعبده باز د لومړي شکل مطابق هر دوه مخه وروسته خط خط کوي او د دوهم شکل هر دوه پاڼې وروسته سپین پریږدي.



www.libtool.com.cn

د خط شوو مخونو نمونه چې د بني طرفه د نیمه مقوس په شکل قیچي (بیاتی) شویده.



**د سپین پرېښودل شوو مخونو نمونه چې د کيڼ له طرفه د نيمه مقوس په شکل قيچي (بياتي) شويده.**

په دې ترتيب شعبده باز (لوبغاړی) کتابچه له پيل څخه تر پايه دوه مخه خط خط او دوه مخه سپين پرېږدي، همدارنګه شعبده باز هر يو مخ وروسته د پای په کنج قيچي (بياتي) کوي چې تر څو د مخ په ګرځولو کې يو مخ خلاص او بل مخ خلاصه نه شي.


د ننداري په وخت کې شعبده باز غټه ګوته د کتابچې په يوه خوا چې بياتي (قيچي ) شوی ده اړدي او په چټکتيا سره کتابچه تر پايه پورې اړوي په دې کې يوازې هغه مخونه خلاصيږي چې خط خط دي او ننداره کوونکی فکر کوي چې کتابچه له ليکنو څخه ډکه ده.

بيا وروسته شعبده باز د لاس په چټکۍ او غورو (لافو شافو) کولو سره بې ددې چې خوك پوه شي، کتابچه په بل لاس او غټه ګوته، يعنی هغه ځای چې قيچي شوی دی، نيسي، په دې وخت کې يوازې هغه مخونه خلاصيږي چې سپين دي او تاسې فکر کوئ چې کتابچه ټوله سپينه ده او په دې ننداره حيرانيږئ.

پام وکړئ چې کتابچې بیاتي (قیچی) شوی برخه ۳ سانتي مترو پوری په مقوس ډول په اوږدوالی او قطر کې ده.

## ۲ – سحرګره صندوقچه:


شعبده باز تاسو ته د هینداري یوه صندوقچه درښیي. لکه د یوې رڼا کوټې په شان ښکاري او تاسې کولای شئ هغه د کوټې په کونج او یا الماری کې کېږدی، شعبده باز څو فلزی سکې په هغه سوری کې چې د صندوقچې په پورته برخه کې دي اچوی خو ټولې دا پیسې په صندوقچه کې ورکیږی چې تاسې به اریان شئ.



### د سرته رسولو ډول او طریقه:

صندوقچه په اصل کې د شپږ ټوټه د مخ د هینداري او یوه ټوټه د ښیښو چې یوه سطحه او یوه اندازه لري، په مکعب ډول جوړه شوې وي او د یوې هینداری پارچه چې اوږده وي په مایل ډول په صندوقچه کې وي صندوقچه د مکعب په شکل سره خښه او په منځ کې یې د آیني اومه ټوټه په ۴۵ درجو چې د صندوقچې د سر او قاعدې سره لګیدلی وی.

www.libtool.com.cn




د نور انکسار له قانون سره سم د تصویرونو د مخ د برخې څخه پورتنۍ برخه او د صندوقچې کښتنۍ برخه چې مایله ده په بشپړ ډول سره د څلور ضلعي په بڼه ښکاري. صندوقچې په اصل کې د یوه مایله توګه د ۴۵ درجو باندې په دوه برخو ویشل شوی دی. په داسې حال کې چې په نیمه لوړه صندوقچه او د هغی شاته تش ځای شته چې سکې د کړې هینداري شاته کیږي، سکې نه لیدل کیږي او لیدونکی ورته حیرانیږي.

## ۳– د فلزی سکې ورکیدل:

شعبده باز په یوه وړوکي فلزی سکه له جیبه راوباسي او تاسو ته به یې دروښیي تر څو چې پوه شئ چې په رښتیا سکه ده. سکه د میز په سر اږدی، په هغه وخت کې د اورلګیت ډبلی چې دمیز په سر دی او یا یې له جیبه راباسي او په سکه یې اږدی.

له څو شیبو څخه وروسته د اورلګیت ډبلی دمیز له سره لرې کوي فلزی سکې بې درکه شوی وي. بیا غوړې او لاقې شافې کوی چې سکه په هوا

شوي او یا د ننداړچیانو په جیب کې یې ایښې ده. کله چې دې د هغه جیب لټوي، سکه د هغه له جیبه راباسي، او تاسې به اریان شئ.

### د سرته رسولو ډول او طریقه:

شعبده باز پخوا یوه ټوټه آهن ربا د اورلګیت په ډبلی کې د خلیو لاندې ایښې وي او یایې د اسکاچتیب یا رابرتیپ په واسطه کلکه کړې وي او په هغه یې د اورلګیت خلي ایښې وي. کله چې د اورلګیت ډبلی په سکه باندې اړدي سکه په ډبلي پورې نښلي او هغه پورته کوي.

د هغه چا له جیبه چې سکه راباسي، د شعبده باز همکار وي چې تاسې ورته حیرانیږئ.

### ۴ – تشه کوزه له اوبو ډکیږي:

شعبده باز فلزی تشه کوزه ښکاره کوي او هغه پر بل مخ اړوي او له منبوکې یا خولې څخه ور پو کوي. چې په بشپړ ډول سره تشه ده. بیا وروسته په شپیلۍ او ډولك وهلو، غورو او لاپو کولو سره شپیلی په کوزه کې ننه باسي. ته به وایې چې څه ټکوي اوبه د فرات او یا د ګنګا، جمنا څخه غواړي او ننداړچیان ګوري چې په کوزه کې ډیرې اوبه پیدا کیږي. حتی دوه او یا درې واره هغه په بل مخ اړوي اوبه له کوزې توئیږي.

### د ترسره کولو ډول او طریقه:

د کوزې په دننه کې یوه ګرده فلزی پرده لګیدلې ده چې کولای شي یوه اندازه اوبه وساتي. یوه اندازه اوبه په یوه پلاستیکی کڅوړه کې په کوزه کې له پخوا څخه اړدي او سر یې ټینګ تړي. کله چې کوزه د ننداړې څخه وړاندې اړوي راوړوي خرنګه چې د پلاستیکی کڅوړې سر تړلی دی نو اوبه نه توئیږي.

www.libtool.com.cn

شعبده باز وروسته له هغو چې نندارچیان په دې ډاډه کړي چې اوبه په کوزه کې نشته، بیا په غوړې کولو پیل کوي چې اوبه د شپیلۍ په واسطه د دجله او فرات او یا دګنګا او جمنا لـه سیندونو څخه راوړي او پـه کوزه کې یې اچوي. په دې حال کې فلزی شپیلۍ د کوزې په دننه کې د هاوان پـه شان وهی، کڅوړه سوری کیږي اوبـه د شـپیلۍ پـه زور راپورتـه کیږي، کـوزه لـه اوبـو ډکیـږی، کـوزه چـې څـو وارې کښتـه پورتـه کـوي اوبـه لـه کـوزې څخـه راتوئیږی. فلزي پرده د ټولې اوبه د توئیدو مخه نیسی.

**۵ – د انسان د بدن اره کول:**

دا یوه ستره ډارونکې ننداره ده چې ښودل کیږی. ددغې ننداری پـه تـرڅ کې یو انسان د ډاریدونکو ننداړچیانو په وړاندې اره کیږي.

د شعبده باز پـه امر سره یـو صندوق پـه ستر میز بانـدې اږدی، پـه هغـه وخت کې یوه وګړي ته امر کیږی چې د صندوق په منځ کې وغزیږی.

صندوق څلورو خواو ته پنځه سوري لري، چې پـه پـورتنی برخـه کې ستر سـوری د سـر د رایسـتلو لـه پـاره اود لانـدې برخـه کې دوه سوری د پښـو د رایستلو له پاره او دوه نورو خواو ته دوه نور سـوري د لاسـونود رایسـتلو لـه پاره په کې دي.

د شعبده باز په امر سره د صـندوق سر تـړل کیـږی اولـه هغـه سـري څخـه غوښتل کیږی چې سر، پښې او لاسونه د صندوق د سوریو څخه راوباسي.


بیـا وروسـته تـرې غوښتـل کیـږی چـې سر، لاسـونه او پښـې وخوځـوي. وروسـته سره د لرګو د لندولو یـوه غتـه اره راغـواړي، د سړی د ژړا او زاریـو سره سره صندوق دوه نیمه اره کـوي، ډیرې وینـی لـه صندوق څخـه بهیـږی، کله چې د سړی لاسونه او پښې لـه حرکت څخـه پـاتې شـوې، صـندوقونه سره

بیلوی. بیا د شعبده باز په دستور سره بیل شوي صندوق بیا سره یو ځای کوي او میخونه پرې ټکوهي.

هغه وخت شعبده باز هدایت ورکوي چې سر، لاسونه او پښې سره راټول کړئ او د صندوق څخه ووزي. نوموړی سړی بیا خپل لاسونه او پښې په صندوق کې ننباسي او روغ رمټ له صندوق څخه راوزي چې تاسې به ورته اریان (حیران) پاتې شئ.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

صندوق ډیر لوی دی، یو سړی پخوا په هغه کې پروت دی. کله چې دوهم سړی ته د ننداړچیانو په وړاندې د ننوتلو امر کیږي، تر څو لاسونه، پښې او سر له صندوق څخه راوباسي، لومړی کس چې په صندوق کې پټ دی او په صندوق کې ناست وي. خپلې پښې د صندوق د لاندې څخه راباسي. او هغه سړی چې دننداره چیانو په وړاندې صندوق ته ننوزي، خپل سر او لاسونه د صندوق له پاس سوریو څخه راباسي. او پښې د ګیډې خواته راټولوي.



دا چې صندوق د منځه پرې کیږي، هلته د دواړو کسانو هیڅ برخه نه شته. یوازې هلته د وینې په رنګ ډکه یوه کځوړه وي چې د اره کولو په وخت کې څیرې او وینې بهیږي.


کله چې دصندوق دوې ټوټې سره یو ځای کیږي. د شعبده باز په دستور سره دواړه کسانو خپل لاسونه او پښې د صندوق دننه کوي. او بیا دوهم وګړی چې د شعبده باز په دستور سره دننداره چیانو په وړاندې صندوق ته ننوتلی وي، بیا روغ رمټ له صندوق څخه راوزځی او دوهم سړی همدا ډول په صندوق کې پټ وي.

## ۶ – په لاس، غوږ او یا په پزه کې د پاکي نن ایستل:

شعبده باز پاکی په لاس کې نیسي، وروسته له هغه چې تاسو ته یې وښودله، پاکی په خپل لاس غوږ او یا پزه کې ننباسي.بې لدې چې د وینې یو څاڅکی ترې وبهیږي، تاسې به ورته اریان پاتې شئ.

## د سرته رسولو لار او طریقه:

پاکي د یوې ګوتې او یا د غوږ او یا پزې په اندازه پرې شوې وي، چې یوازې دهغه پزه، غوږ او یا ګوتی په کې ځائیږي.




www.libtool.com.cn

د ننداري په مهال شعبده باز پرې شوې ځای په لاس کې پټوي او پوره برخه يې تاسو ته ورښکاره کوي او بیا په ننداره کې په پرې شوي ځای کې ګوته، غوږ او یا پزه ننباسي. داسې ښکاري چې پاکې په پزه، غوږ او یا د شعبده باز په لاس کې تللې ده او تاسې د هغې په لیدلو اريانوي.

## ۷ - د چاړې او یا تورې په مټ کې ننه ایستل:

شعبده باز ښايي ووايي چې چاړه یا توره د خپل شاګرد (جمبورى) په مټ کې ننباسي. چاړه یا توره اخلي او په هغه یوه ټوټه لرګی ټوټې ټوټې کوي.



شاګرد هر څومره چې غواړي ددي کار څخه تیر شي. شعبده باز يې نه مني. او بیا د میز یوې څنډې ته چې نندارچیان يې نه ویني. چاړه او توره د شاګرد په مټ ننباسي. شاګرد ژاړي او مټ خوځوي. چې چاړه او یا توره په هغه کې ننوتې ده او تاسې يې په لیدلو اريانيږئ.

### د سرته رسولو لار او طریقه:

توره یا چاړه دوه موټې او یا دوه طرف یا نیمه يې لرى: یو طرف یا نیمه يې اصلي دی چې د شعبده باز په لاس کې دی او تولو ته يې ښکاره کوي

اوپه هغه لرګي ماتوي. بل طرف يا بله چاړه يې نقلي دی چې د هغې په منځ کې ځانګړې پريکون سرى د هغه تش ځاى په دوه فلزي ټوټو چې شاته يې دوه (کولمې) (سپرينګ) دي، ځاى په ځاى شوى دى، دغه چاړه له ننداره چيانو څخه پټه ساتل کيږي.



په هغه وخت کې چې غواړي چاړه د شاګرد په مټ کې ننباسي. اصلي چاړه يا اصلي طرف ځنګ ته کوي او دوهم چاړه يا کيندل شوى خوا را اخلي، پريکړ شوى برخه د شاګرد په مټ يا لاس او يا پوزه ننباسي چې د په رښتيا چاړې په شان ښکاري چې د شاګرد په لاس او يا پوزه کې ننوتلې او تاسې د هغې په ليدلو اريانوي.

## ۸ - په ژبه کې د پنګ او يا سيخ ننه ايستل:


ښايي شعبده باز تاسې ته نرى سيخ په لاس کې درکړي چې هغه له نيږدې څخه وګورئ او ډاډه شئ چې هغه رښتياني او فلزي پنګ او يا سيخ دی. بيا وايي چې دا سيخ د ژبې او يا پوزې په يوه خوا ننباسي او له بلې خواته يې راباسي.

ښايي د عطر او يا کلونيا بوتل له جيبه راوباسي او هغه د وينې بهيدلو د هغه دوا په ډول يا د درد ضد او مکروب ضد دوا په توګه په خپله ژبه وپاشي. او بيا د سيخ په ننه ايستلو پيل کوي. او دا چې ځينې د هغه ليدلو توان نلري، نو اړکيږي چې شاته مخ واړوي. بيا سمدلاسه ننداره چيانو ته مخ اړوي او ورته ښکاره کوي چې ځنګه يې سيخ په پوزه او يا په ژبه کې ننه ايستلی دی چې تاسې به ورته اريان شئ.

www.libtool.com.cn

**د سرته رسولو لاړ او طريقه:**

شعبده باز دوه ميله همرنګه سيخونه او يا هم پرى شوى پنګ لري. چې يو عادي او مستقيم دى چې تاسو ته درښودل کيږي او بل تاو شوى او يا پرى شوى چې په لاس او يا جيب کې يې پټ کړى وي. چې تاسو ته له ښودلو څخه وروسته عادي



پنګ او يا سيخ پټوي او تاو شوى سيخ يا پنګ په پوزه او يا په ژبه کې ځاى په ځاى کړي. داسې جوتيږي چې هغه په پوزه او يا په ژبه کې ننوتلي اود پوزې او يا د ژبې بلې خواته راوتلي دي.

**۹- د دستمال د دوه کنجونو غوټه کول او په يو لاس د هغه خلاصول:**


شعبده باز په تاسو ته يو نرم او نازك دستمال در ښکاره کړي، بيا به يې دوه مخامخ کنجونه ونيسي. دوه او يا زياتې غوټې به ورکړي. او يوسر به يې يو د حاضرينو ته ورکړي چې هغه وشکوي. چې غوټې ښې ټينګې شي. چې هيڅوك حتى هغه په دوو لاسونو هم خلاص نه کړاى شي بيا شعبده باز دا غوټه په خپل يوه لاس اخلي او د دستمال بل طرف په خپل لاس اچوي او خپل لاس اوغو ته پټوى چې غوټه يې په لاس کې ده.

www.libtool.com.cn

بیا په آساني سره د دستمال لاندې غوټه به خپل هماغه یوه لاس خلاصوي او دستمال د لاسه لرې کوي تاسې به ووینئ چې دستمال خلاص او اریان به پاتې شئ.

## د سرته رسولو لار او طریقه:

د دستمال په مخامخ کنجونو کې داسې غوټې کوي چې دوه یا د هغه څه زیاتې غوټې په یوه دور راګرځي او هغه پای چې په هغه غوټه کیږي په اساني سره د غوټو له منځه تیریدای شي او په آساني سره خلاصیږي.



شعبده باز دستمال په لاس اخوي او په آساني سره دستمال یې د غوټو څخه راباسي او څکوي یې غوټه د شعبده باز په لاس کې خلاصیږي هغه مهال دستمال لرې کوي او تاسې به اریان شی.


## ۱۰- کړکی (نی) یا د شپیلۍ په شان سحرناکه میلې:

شعبده باز به بنایي دوې میلې یا کړکي (نی) تاسو ته درښکاره کړي. چې یو تر بله په بشپړ ډول بیل دي او دهغه دواړه اړخونه په کاغذ او یا رابر ټیپ پوښل شوي وي. چې د هغه منځ ونه لیدل شي. هره یوه میله په خپله پورته نیمایي کې سوری لري اود سوري څه ټینګ تار راوتلی وي. چې د هغې په سر کې د ګل په شان ځوړند وي.

شعبده باز ددې میلو یویو سره دشپیتو درجو په زاویې سره په لاس کې نیولي او په بل سر کې خونډی ځکوي دغه تار اوږدیږي او هر څومره چې اوږدیږي د بلې میلې تار لنډیږي، ته به وایې چې د دواړو میلو تارونه سره تړلي دي. کله چې میلې په دواړو لاسونو سره لرې کوي، تاسې په ورته اریان پاتې کیږئ.

## د سرته رسولو لار او طریقه:

د میلو په دننه کې د ختو ټوټې چې په آسانی پورته کښته کیږی، ځای په ځای شوې وي او د تار یو سر وربورې تړلی وی. شعبده باز لومړی دواړه میلې په شپیتو درجو زاویې سره په یوه لاس کې نیسي.



بیا هغه میله، چې د اوږده تار لرونکی ده. په شپیتو درجو زاویې سره په لاس کې نیسي. دکش کولو په وخت کې لومړی میله په ۴۵ درجو زاویې سره ځملوي. او دوهمه میله ورو، ورو په ولاړ ډول دریږي او تار ورو، ورو د میلې منځ ته ننوزی. داسې ښکاري چې دواړه میلې یوتر بله اړیکې لري او د یوې تار په کش کولو سره د بلې تار هم کش کیږی.

www.libtool.com.cn

### ۱۱– د اورلګیت د خلي چې تاسې په ننبه کړی، پیژندل:

شعبده باز بنایي څو تنه سره راغونډ کړي او پنځه د اورلګیتو خلي په مساوي واټن تاسو ته دربنکاره کړي. او له تاسو څخه به هیله وکړي چې د یو د بل په خوښه یو خلی وټاکئ او خپله به له کوټې څه ووځي کله چې راوګرځي مستقیماً به په هغه خلی لاس کیږدي چې تاسې خوښ کړی دی.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

د شعبده باز یو همکار ستاسو په منځ کې شته او بنایي له تاسو څخه هغه زیات د شعبده باز سره جنجال هم وکړي، خو هغه په واقعیت کې د شعبده باز مرستیال او ملګری دی چې د تاسو په مینځ کې دی او هر خلی چې تاسې ټاکې په ایشاره سره شعبده باز پوهوي. د مثال په توګه له ښي څخه کیڼې خواته دریم خلی تاسو ټاکلی دی. د شعبده باز مرستیال او ملګری د خلی له پاره د اشارې په ډول د وجود په کومه برخه لاس اږدی، د دویم، دریم مثلاً د دریم له پاره لاس په لاس ږدی. کله چې شعبده باز د خلي له ټاکلو څخه وروسته مجلس ته راځي، لومړی خپل مرستیال ته پام کوی چې لاس یې په لاس ایښی دی. نو هغه وخت پوهیږی چې تاسو دریم خلی ټاکلی دی او دریم خلی پورته کوي او تاسې به ورته اریان شئ.

www.libtool.com.cn

### ۱۲- د ګوګړو د لرګیو ماتول او بیرته د هغه جوړ بنکارول:

شعبده باز یو جوړ د ګوګړو لرګی تاسې ته ښیي او وروسته له هغه چې تاسې پوره ډاډه شئ چې خلی جوړ دي، هغه خلی په خپله لمن او یا د جیب په دستمال کې تاو کړي تاسې څخه به وغواړي چې هغه خلی یا لرګی چې په دستمال یا لمن کې دي ماته یې کړه؟ وروسته له هغه چې تاسې ډاډه شئ

چې خلئ یا لرګی پوره مات شویدي دستمال به خلاص کړي او هغه لرګی به تاسې ته تیار جوړ وښیي.

## د سرته رسولو طریقه:

لوبغاړی یا شعبده باز یو لرګی د کالیو په منځ کې لري او پټ کړی یې وي. څرنګه چې لرګی یا خلی د لمن په منځ کې پټ کړیدي او په دستمال کې یې ایښی دي چې نه هغه تاسې لیدی شي او نه د لمن څخه ښکته لویږي.

شعبده باز هغه لرګی چې تاسې ته ښیي، تقریباً د ۸ – ۵ سانتي متر ویوري د دستمال په څنډه کې تاو او په هماغه لرګي د دستمال څخه لري ساتي او هغه وخت تاسې ته لرګی درکوي هغه چې د دستمال په یوه برخه کې پټ شویدي، چې تاسو هغه مات کړې هغه وخت چې د لرګي د ماتیدو په اړوند ستاسې اطمینان پوره شو، دستمال خلاصوي هغه لرګي چې تاسې ته وښودل شو، بیرته بیا هغه جوړ راباسي، مات شوی لرګی په څنډه د دستمال او یا لمن کې هم هغسې پټ وي.

## ۱۳ – د د ګوګړو ډك یاخالي قوتۍ:

شعبده باز د سګریت د لګولو او بلولو د پاره تاسې ته د ګوګړو قوتۍ وښیي چې ډك دی او یوتیلی یا لرګی به واخلي چې سګریټ بل کړي. دګوګړو لرګی بغیر له دي چې سګریټ بل کړي په لاس کې پاته کیږي. خپل ځان په لاڤو شافو بوخت ساتي، تر څو د ګوګړو لرګی مړشي، هغه وخت په جعلي توګه سګریټ ته ګوري چې تر اوسه پورې بلوی نه دي. بیرته بیا غواړي چې بل لرګی دګوګړو له قوتۍ څخه واخلي، ترڅو سګریټ ولګوي.

www.libtool.com.cn

دا ځل : ګوګړو قوتۍ خلاصوي، پام کوي چې دګوګړو قوتۍ په پوره توګه خالي دي او په هغه کې کوم خلی نشته او تاسې په حیرانتیا کې پاته کیږئ.

## د سرته رسولو لاره او طریقه:

د ګوګړو قوتۍ دواړو خواوو ته یوه نبنه لري،تر څو څوك پوه نه شي چې قوتۍ معکوسه یا سر چپه شوې ده، ځکه چې د قوتۍ داخلي برخه، یعنې هغه خوا یوازې یوه قطار چې خلي پکې سرش شوی دي د بلې خوا پوره خالي دی.

په یو خوا یو قطار خلي یا لرګي محکم ځنګ پر ځنګ سریښ شویدي او یوازې یو لرګی یا خلی دهغه په مخ ایښودل شویدی. دارنګه معلومیږي چې قوتۍ پوره د خلو یا لرګیو څخه ډك دي. لوبغاړی یا شعبده باز اول دهغه قوتۍ مخ خلاصوي چې د هغه پر مخ خلي یا لرګی سریښ شویدي. کوم وخت چې یو لرګی ورڅخه لري شي، نو دلاقو شافو وهلو په وخت کې ورو دګوګړو مخته څرخ ورکوي او وروسته د هغه خلي له مړکیدو، چې لګولی یې دي،دقوتۍ بلې مخ خلاصوي چې تش دی او تاسې به حیران کړي چې قوتۍ پوره خالي ده!

## ۱۴ – د ګوګړو خالي قوتۍ:

لوبغاړی به تاسې ته خالي ګوګړ درکړي چې هغه په پوره پام سره وګورئ او ډاډه شئ چې په قوتۍ کې هیڅ ګوګړ یاخلی نشته.

وروسته لاسونه، د ګوتو منځ، حتی لستوني به تاسې ته وښیي چې ګواکی هیڅ شي له ده سره نشته. هغه وخت خپل لاسونه شاته وړي، کوم وخت چې لاسونه لاندې راوړي یو د ګوګړو خلی له ځانه سره لري او

www.libtool.com.cn

هغه سوزوي او تاسې به حیران شئ چې د ګوګړو خلې یا لرګی له کوم ځایه پیدا شو؟

**د سرته رسولو لار او طریقه:**

لوبغاړي له وړاندې نه یو لرګی یا خلئ د خپلو ویښتانو په منځ کې پټ کړیدي، چې په یوه مناسب فرصت او موقع کې خپل لاس شاته وړي او هغه آخلي.

## ۱۵ – د ګوګړو د لرګیو سرونه ورکیږي:

لوبغاړی ګوګړ آخلي او یوه شمعه د میز پر مخ روښانه کوي، بیا هم د ګوګړو قوتۍ خلاصوي او ټولو حاضرینو ته ښیي چې ټول ګوګړ سر لري لږ څه وروسته بیا هم قوتۍ ننداره کوونکو ته ښکاره کوي، لیدونکي به وګوري چې ټول د ګوګړو خلي یا لرګي سر نه لري او حیران به شئ.

**د سرته رسولو لار او طریقه:**

لوبغاړی مخکې تر مخکې د ټولو خلو یا لرګیو سرونه سپینوي، یوازې دوه سالم خلي پریږدي یو د شمعې د لګیدو او بل د روښانه کیدو د ښودلو یا تماشې لپاره. نوره ټول خلي سر نلري. یوازې هغه لرګي چې د کاغذ پر مخ رسم شویدي د لرګیو په سرونو اینښودل شویدي.

لوبغاړی وړاندې له دې چې د ګوګړو قوتۍ ننداره کوونکو ته وښیي هغه رسم شوی د کاغذ ټوټه په ډېره چالاکۍ د ګوګړو د قوتۍ څخه راباسي. په همدې ترتیب هغه ګوګړو قوتي چې خلي یې سر نه لري سیل کوونکو ته ښیي او هغه حیران پاته کیږي.

www.libtool.com.cn

## ۱۶- د پړي یا رسۍ پرې کول او د هغې جوړ ښودل:

لوبغاړی به تاسې ته ښایي چې نری پړی دروښیي او حتی یو پړی هغه سیل کوونکو ته ورکړي چې کش یې کړي، تر څو مطمئین شي چې تیر ایستل نشته، بیا وروسته د پړی سرونه په حلقوي توګه په یوه معلومه فاصله کې د رسۍ په منځ کې ږدي او له همدې ځای څخه غوټه ورکوي او پړي په خپل لاس کې نیسي، بیا د غوټې اچولو لومړۍ نقطه، له تاسې څخه به وغواړي چې قیچي یا بیاتي واخلئ او منځني نقطه یې پرې کړئ او تاسې حتماً فکر کوئ چې پړی یا تار تر دوه نیمو پورې پرې شویدي.

وروسته به لوبغاړی تاسې ته یوه د رسۍ یوه سر درکړي چې کلکه یې ونیسئ او رسۍ ورو، ورو، دمنځنۍ برخې څخه ایله کوی، تر څو چې ټول برخه چې دده په لاس کې پاته کیږي رسي دوباره بیا صحیح پوره او روغه پاته کیږي او د هغه د بیاتي پرې کیدلو هیڅ اثر نشته په دې وسیله سره به تاسې پوره حیران کړي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

لوبغاړې په لومړي ځل دواړه د رسۍ سرونه خپل لاس کي اخلي، دوهمه رسۍ دارنګه پرېږدي چې دوهمه برخه د جعلي نقطې په دوهم لاس کې آخلي او هماغه دوهمه برخه د لومړۍ برخې سره غوټه یاګنډه اچوي، تر څو په آسانه توګه د پړي له منځ څخه خلاص شي.

تاسې به ګورئ چې رسۍ یا پړی له (۵) څخه تر (۱۰) سانتي پورې لنډ شویدي.

www.libtool.com.cn

**۱۷ - د دستمال سوزول یا پرې کول او د هغه بیرته روغ رمټ ښودل:**

د دستمال سوزول او پرې کول د لوبې کوونکي له خوا عیناً د رسۍ د پرې کولو په څیر دي. یعني دا چې دستمال لوبه کوونکی په دوو غوټو یا حلقو تقسیموي او یا د دستمال یوې برخې ته غوټه یا ګنډه اچوي چې وښيي وګورئ دستمال په دوو برخو ویشل شویدي. هغه وخت لوبغاړی یوه برخه د دستمال د خپلو دوو لاسونو په منځ کې نیسي او له تاسې به وغواړي چې دستمال دده د لاسونو په منځ کې قیچي یا پرې کړئ، وروسته همدا پرې شوی برخه د دستمال په خپل لاس له دستمال څخه د باندې راوکاږئ او اور به ورته کړي او تاسې به فکر وکړئ چې لوبغاړی دستمال له منځ څخه په دوه نیمو برخو تقسیم ویشلی دی.

هغه وخت لوبغاړې دستمال د حلقو په شکل یو بل سره وګندي، د خپلې خولې لاندې به یې کیږدي وروست هغه به صحیح سلامت راوباسي او تاسې به حیران شئ.

**دسرته رسولو لار او طریقه:**

لوبغاړی به په همغه رقم لکه چې د پړي پرې کولو په اړوند وویل شول. یوه برخه د دستمال به پرې کړي او هغه به وسوځوي چې د هغوي هیڅ آثار پاتې نه شي په داسې حال کې چې د دستمال یوه برخه پرې شویدي، تاسې به فکر کوئ چې دستمال د پخوا په شان روغ رمټ دی، په داسې حال کې چې د هغه یوه برخه لنډه شویدي.

www.libtool.com.cn

**۱۸ - د لاس په واسطه دغوزانو او بادام د زړی ماتول:**

کله لوبغاړی د لوبودټوکو څوداني غوزان، بادام یا میوه چې د نرم پوست درلودونکی لکه زردالو زړی خوري او د چپ لاس ورغوی، لکه د لرګي یوه میله د زړي د پاسه کیږدي، د بل لاس د موټي پواسطه زور فشار ورکوي همدا ډول په خپل ځنګل پاندی د سوکو په وهلو، زړي یو یو ماتوي او په خوړو یې شروع کوي.

**د سرته رسولو لار او طریقه:**

زړی د چپ لاس د هډوکي لاندې ږدی او په زړي باندي زیات فشار ورکوي او سربیره پردې دهغه لاس د هډوکي ته د سوکونو په وهلو سره زور ورکوي، زړئ ماتیږي او تاسې په تعجب کې پاته کیږئ.

**۱۹ - شمعه په دستمال بدلیږي:**

شمعه د میز پر سر په شمعداني کې ایښی ده، لوبغاړی شمعه د ګوګړ پواسطه روښانه کوي او وایي چې تاسو کولئ شي شمع په دستمال باندي بدله کړئ؟

بیا نو لستوڼی بروهي، لاسونه او متې ټولو خلکو ته ښیي، تر څو ټول یقین وکړي چې دستمال په لاس کې نلري او نه غواړي چې څوك وغولوي،بیا وروسته شمعه مړه کوي او د چیغونو په وهلو سره کوي دا شمعه ټوټه ټوټه کوي او هغه د دستمال پر مخ په مختلفو رنګونو بدلوي. یوه پرده مخ ته راځي او لیدونکو ته په احترام سره دستمالونه هغوي ته ورښیي.

www.libtool.com.cn

### د سرته رسولو لار او طريقه:

وړانـدې دري دستمالونه پـه مختلفو رنګونو، مـثلاً تـور، سـور او شـين دسپين کاغذ پـه داخل داستوانه يی شمعه پـه شکل کې تـاو شوي دي او فقط يوه کوچنی شمعه چې تر دوو سانتي مترو پورې د استواني پـه پورتنۍ برخه کې لګيدلی دی.

لوبغاړی بيا پـه خبرو کې نومـوړي شـمعه او تـاو شـوی کاغذ ټوټې ټوټې کوي او دستمالونه دهغوي څخه بيرته کوي شمعه او کوچنی شوی کـاغذ پـه لاسونو کې نيسي چې څوك هغه ونه ګوري.

### ۲۰ – له مقوا د ورقو څخه د دستمال را ايستل:

لوبغاړی هغـه پوسـتر چې پـر ديـوال نصب شـويدي بهر راوړی او ننـداره کوونکو ته ورکوي، تر څو چې غواړي هغه وګوري او معاينه يې کـړي. هغـه وخت چې پوره مطمئين شي چې پوستر يوعـادي ورق دي او کوم څـه پـه هغـه کې په کار شوي نه دي، هغه بيرته اخلي او دعواکوي چې د هغه له منځه بـه رنګارنګ دستمالونه راوباسي. او پـه بل لاس څو تعداد پـه مختلفو رنګـونو دستمالونه، حتی دهيواد بيرغ هم راکاږي. وروسـته پـه ډيری خواشنۍ سره پوستر خلاصوي بيايې په ديوال باندې نصبوي.

### د سرته رسولو لاره او طريقه:

پوسـتر عـادي او سـاده وي مګـر د لوبغـاړی متهې عـادي نـه وي. يعنـي د لوبه کوونکي په لاس کې وړاندي دستمال پټ پاتي شويدي، کـوم وخـت چـې پوستر د خپلو لاسونو په واسطه خلاصـوي، ليـدونکی نـه شي کـولۍ چـې د

لوبغاړی دمتهو سره دستمال وګوري او لوبه کوونکی په آساني دستمال له لستوڼي څخه راباسي او سيل کوونکو ته يې ښيي.

## ۲۱ – له کاغذ څخه د دستمال کارول:

ښايی چې لوبه کوونکی يو لاسي څراغ تاسې ته وښيي چې څه وخت روښانه يا بليږي او څه وخت ګل کيږي يا مړ کيږي، نو پس د کاغذ يو مخ واخلي اوسره تاو يې کړي او اسکاشيپ باندي يې بند کړي، بيا وروسته لاسي څراغ څو ځلې د يو تاو شوي کاغذ سره داخل کړي او بلې خوا يې بهر کړي.

وروسته له څو ځل داخل او بهر کولو څخه لاسي څراغ يوې خواته کيږدی او د لوله شوي کاغذ له منځه رنګا رنګ دستمالونه باسی او تاسي حيرانوي.

### د سرته رسولو لاره او طريقه:

لاسي څراغ له دوو برخو جوړ شويدي. لومړی برخه يو واقعي څراغ دی چې په آساني ګل او روښانه کيږي او دوهمه برخه يا وروستنی برخه د رنګا رنګ دستمال لونو څخه جوړه شويدي، چې په داخل کې يوه فلزي ميله دڅراغ د رنګ په رقم ده.

لوبغاړی څو ځله څراغ دکاغذ لولې ته داخل يا بهرکوي او دوهمه برخه څراغ چې د رنګا رنګ دستمالونو څخه جوړه شويده، دکاغذ د لولې په منځ کې ساتي او بيا وروسته رنګا رنګ دستمالونه د کاغذ د لولې څخه يو يو راکاږي او تاسي په حيرت او تعجب کې پاته کيږئ.

www.libtool.com.cn

## ۲۲ - د شپو په خولۍ د ځیزونو بدلول:

لوبغاړی میدان ته داخل شویدي د احترام په وړاندي کولو سره ننداره کوونکو ته د خولۍ منځ تهولو ته ښیي او هغوی یې ګوري، د خولۍ دننه په تورو او بخملي رنګونو پوښل شویدي، لوبه کوونکی غواړي وښیي چې خولۍ پوره خالي ده او هیڅ شی هلته نشته. وروسته ددې مختلف شیان لکه تسبیح، ګل، پلاستیك ډوله ګړۍ دخولۍ منځ کې واچوی او خوله به خپل سر کې ږدي. ناڅاپه خولۍ له سر څخه آخلي او د هغې له منځ څخه ددې جواهر ډوله مډالونه د وړاندي شیانو په ځای راباسي او ټول خلك حیرانوي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

د خولۍ په منځ کې یوه بیضوي شکله مقوا په دوو برخو تقسیږي او د مقوا په منځ کې یوه جوړه لرګي نصب شوي وي او دغه مقوا په تور رنګه بخمل سره پوښل شوي وي، په دې صورت دوه کوټی دوو خواو ته لرګي د خولۍ په منځ کې پیداکیږي، چې یو لړ شیان لکه مډالونه له وړاندي نه پکې ځای په ځای شوي دي. هغه څه چې د ننداره کوونکو په وړاندې په خولۍ کې په ځای شوي وي په دوهمه برخه یا کوټی کې ږدي. خولۍ دا رنګه ږدي چې وړاندې د جایزو ایښودلو، مډالونه له دوهم کوټ څخه باسي، کوم وخت چې خولۍ اړوي جایزي لاندې لویږي.

## ۲۳ – له خولۍ څخه د دستمال کارل:

لوبغاړی د ننداره کوونکو څخه یو تن، چې خولۍ په سر لري ښایي ووایي چې ولې دخولۍ په منځ کې دی ولی دستمال ایښی دی؟

ښايي چې ننداره کوونکی خپله خولۍ واخلي وبه وايي چې زما خولۍ کې خو څه نشته.

لوبه کوونکی به بیاهم په تاکید سره ووايي چې که یقین نلري، خولۍ دهغه بل ننداره کوونکی ته ورکړه چې هغه يې هم وګوري ښايي دا بل ننداره کوونکی هم ووايي چې په خوله کې څه نه شته. وروسته لوبه کوونکی بخپله خوله واخلي او دخولۍ د اخیستو په وخت کې خولۍ په ځمکه غورزيږي.

هغه وخت يو بورس چې له وړاندې نه د میز په سر اېښودل شويدي، آخلي په هغې باندې خولۍ صفا کوي او داسې به وښايي چې خولۍ په خاورو کې لويدلي او ککړه شویده، وروسته به يو يو دستمال له خولۍ څخه راباسي.

## د تر سره کولو لاره او طريقه:

نازك دستمالونه چې له وړاندې دبرس دشاخوا ته يا د بُرس يوې خواته اېښودل شويدي، له هغه خواڅخه چې د ليدونکو د سترګو څخه پټه دي. دخولۍ د پاکولو په وخت کې د برس څخه په چالاکۍ او تندۍ سره دستمالونه په هغه کې اچوي.

بُرس بيرته بياد ميز پر سر کيږدي او هغه وخت دستمالونه يو بل پسې له خولۍ څخه راباسي.


## ۲۴ – عادي ورقي چې په طوسونو سره بدليږي:

لوبه کوونکی دري عادي پاڼې په نیمه يو تر بل د پاسه اړدي.، د مثال په توګه يو د پشي، لال او خښتو دوه تايي ګاڼې. دغه دري پاڼې تولوي هغه

ګډوي او يو د بل د پاسه بيرته هغوی نيمه، ښکاره کوي. چې هغوی به د پشی، لال او د خښتو په طوسونو بدله شوي دي. تاسې به حيران کړي.

**د سرته رسولو لار او طريقه:**

هر يو له دي درې پاڼود دووسرونوپه شان جوړی شويدي چې د يو نيم دهغه دوتايي او دوهم نيمايي طوسونه په علامې سره سريښ شوېدي، يعنې لوبې کوونکۍ له وړاندې د د پشي طوس، لال طوس او د خښت طوس په نيمايي صورت سره د قيچي پواسطه غوځ شوي وي او په يو کنج کې دوتايي پشه، دوتايي لال، دوتايي خښت سريښ شويدي.




www.libtool.com.cn

هغه وخت چې دغه دري پاڼي يوي د بلې د پاسه بنودل کيږي، تاسې ګورئ چې ټول دوتايي ګاڼې دي. هغه وخت چې پاڼي سر چپه کړي دنورو قطعو يا پاڼو وروستۍ برخه ښکاره کوي، چې د پشي د لال او د خښتو طوسونه دي.

**۲۵ – د پاڼو سپينول:**

لوبه کوونکی به يو تعداد پاڼې تاسې ته ښکاره کړي چې ټولې د مختلفو خالو يا نقطو درلودونکي دي، بيا هغه ټولې بيرته راټولوي او تاسې ته يې ښايي ښکاره کړي چې هغه ټولې پاڼې سپينې شوې دي.

**د سرته رسولو لاره او طريقه:**

ددې کار د پاره پاڼې په دوه سرې توګه جوړې شويدي: يعنې د پاڼو يو يو طرف يې سپينې شوی دي. چې پلاستيکی پاڼی ددې کار لپاره ډيرې مناسب دي. همدارنګه يوه د ورقو، مثلاً يو د طوسونو څخه چې پوره تراش شويده د نورو پاڼو پر مخ ږدي او هغه کنج (ګود)د پاڼې په ننبه کوي چې سپيمې شويدی او پاڼې ټولې سپينې په نظر راځي.



**۲۶ – د هغې پاڼې پيدا کول چې ستاسو خوښه کړيده.**

لوبې کوونکي وروسته د پاڼو د ګډولو له عمليې څخه پاڼې په يو لاس کې نيسي او هواروي هغه وخت چې پاڼې هواري شويدي تاسې ته نږدې کوي او غواړي چې يوه پاڼه په پټه وباسئ وګورئ او په غير له دې چې لوبې

کوونکی هغه وګوري. وروسته بیا هغه د پاڼو په جمع کې کیږدي او هغه ګډوي هم. وروسته پاڼې سموي. کومه پاڼه چې ستاسې خوښه کړې بهر ته راباسي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

لوبغاړی پاڼه سمه ونیسي او ګډوي یې، دګډیدو په وخت کې پاڼې یو له هغو پاڼو څخه په نښه کوي. او هغه دنورو څخه جلا د نورو پاڼو په منځ کې وړاندې کوي او هغه تاسې ته در نږدې کوي چې تاسې ته دهغې پاڼې انتخاب آسانوي او تاسې د غفلت له پاره تاکید کوي چې زر شه او تاسې هم هغه پاڼه دنورو پاڼو څخه بهر کوي، انتخابوي. ګورئ او دنورو پاڼوسره یو ځاي ږدي.

هغه وخت لوبغاړی پاڼې بیرته بیا سموي او د پاڼې له تیریدو وروسته پاڼه بهر ته راباسي او تاسې ته به یې ښکاره او تاسې به پرې حیران کړي.

### ۲۷ – د پاڼو پیژندل د لاس څخه د لویدو په وخت کې:

لوبې کوونکی یوه پاڼه په لاس کې لري، یو پر بل پسې لاندې وهي چې په خپله د هغې د لیدلو توان نلري او له تاسې څخه غواړي چې یوه پاڼه بدون له دې چې دی پوه شي دده په لاس کې غوره او په نښه کړئ هغه وخت لویدلې پاڼې جمع کوي وروسته له ګډ کولو د پاڼو هغه پاڼه چې تاسې غوره کړیده تاسې ته بهر کوي.

www.libtool.com.cn

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

لوبغاړی د غورځیدل شویو پاڼو څخه یوه په نښه کوي او هغه دټولوپاڼو سره یې جمع وي او دهغې پاڼې چې تاسې غوره کړیده ږدي. بیا پاڼې ګډوي

اويوه يوه جلا كوي، تر څو هغې پاڼې ته ورسيږي چې خپله يې ليدلې دي او دمخكې له هغه پاڼه سره يې ايښې دي چې تاسې غوره كړيدي، دلته د پاڼې شاته پاڼه غوره شويده چې تاسې ته ښودل كيږي او تاسې به حيران كړي.

**۲۸ – د پاڼو ګډول او د هغوی جلا كيدل په څلورو بيلو بنډلونو:**

لوبې كوونكی پاڼې يا پرې د كاټ په شكل سره ګډوي بيا وروسته چې هغه هيڅوك نه ګوري ټولې پاڼې (پرې) په ترتيب سره په څلورو بنډلو د اول څخه تر پايه تقسيموي.

هغه وخت چې پاڼې مخې ته راوړي، د پاڼې يا پرې به وګورئ چې ټول خشتونه په يو لاس، ټول لال په بل لاس كې ټوله قره په بل لاس كې او ټوله پشه په بل لاس كې موجود وي.

**د سرته رسولو لاره او طريقه:**

لوبې كوونكی له وړاندې پاڼې يا دا رنګه جوړې كړيدي چې لومړی قره او وروسته لال، بيا خشت او بيا وروسته يې پشه ځاي پر ځاي كړيدي.

هغه وخت چې هغه ګډوي په هغه كې هيڅ تغير نه راځي. هغه وخت چې هغه تقسيموي، يعنې لومړی پاڼه جلا، دوهمه پاڼه جلا، دريمه جلا او څلورمه جلا ږدي.

بيا وروسته پنځمه پاڼه په لومړی پرې د پاسه، شپږمه پره پر دوهمې پرې د پاسه اوومه پره پر دريمې پاڼې تر پايه دا رنګه د پرونو ويشل تر پايه پورې دوام وركوي.

www.libtool.com.cn

هغه وخت چې پرې مخ ته راوړي ښايي وګورئ چې ټوله قره په يو بنډل، لالونه په بل بنډل، خشتونه ټول بيل بنډل او ټول پشې په جلا بنډل کې ځاي پر ځاى شويدي.

**۲۹- د پاڼو ګډول او د هغوی جلا کول د خالونو پر ترتیب:**

لوبغاړی پاڼې سره ګډوي او هغه وخت پاڼې په ترتیب سره په ۱۳ کوټونو سره په جلا ډول تقسیموي، چې دهر يو په سر کوټونه ۴، ۴ پاڼې په ترتیب ويشل شويدي چې ټولې پاڼې د دوتايي ثخه تر طوس پورې، يو يو جلا برابروي په غير له دې چې لوبې کوونکی ليدلي وي هغه جلا کړي.

**د سرته رسولو لاره او طريقه:**

لوبې کوونکی له وړاندې يوه پاڼه له دوتايي ثخه تر طوسه پورې ځانله بيلې جوړې کړی دي چې د ګډولو په وخت کې يوازې د کاټ په واسطه جلا کيږی چې په دې ترتيب نورو پاڼو ته ضرر نه رسي.

هغه وخت چې لوبغاړی ۱۳ کوټو ته د يوې بلې خوا سره يو ځاي کوي، ثوارلسم پاڼه پر لومړې پاڼې د پاسه ۱۵ پاڼه پر دوهمې پاڼې او حتی د پاڼو تر ختم په ترتیب سره تقسیم کوي.

هغه وخت چې پاڼې مخې ته راوړي ياښکاره کوي. ښايي وګورئ چې ټولې هغه پر ترتیب سره په خالونو ويشل شويدي او تاسې به حيران شئ.

**۳۰ – د شمعې خوړل:**

يو لويه شمع د مېز پرسر شته دي. لوبغاړی ډيرې په زړه پورې خبرې کوي مثلاً ثو کاله وړاندې چې فلاني هيواد ته يې سفر درلود. په يوه وچه

کې یوازې پاتې شوم یا له یوې وږونکې ډلې بندي کړم چې هیڅ اوبه او ډوډۍ راته نه رسیدې، د لوږې د لاسه مې هره ورځ یوه یوه شمعه خوړله او په دا رنګه مې خپل ځان موړ ساتلو. تر څو چې له هغه ځایه خلاص شوم، نو له هغه وخته راته د شمعې خوراك یو عادت وګرځید. په دې جریان کې شمع ته اور ورته کوي کله یې مړه کوي او اخلي یې ورو. ورو یې په خوراك شروع کوي.

## د سرته رسولو لاره او طریقه:

شمع له چاکلیټ څخه جوړه شویده، چې په یو قالب کې د شمع په شکل ځای شویدې په پورتنۍ برخه کې یې د بادام مغز دشمعه په شکل په تار سره محکم کړیدې او په آساني سوځیږي.

لوبغاړی په دې کار سره ښکاره کوي چې ګواکې چاکلیټ نه، بلکې شمعه نوش جان کوي.

## ۳۱ - لوبې کوونکی په یخ باندې سګریټ بلوي.

لوبې کوونکی یوه د یخ ټوټه اخلي او سګریټ چې په لاس کې یې لري. هغه ته ورنږدې کوي. همدا چې یخ سګریټ ته نږدې شو، سګریټ بلیږي.

www.libtool.com.cn

د سرته رسولو لاره او طريقه:

يو اندازه لږ پتاشيم د ستنې د سر په اندازه د سګريټ په څنډه ږدي او په احتياط سره يخ هغه ته نږدې کوي.



پتاشيم يوه حساسه کيمياوي ماده ده. کولۍ شي ترډير زرپه آزاده هواکې د يخ او يا اوبو سره اور واخلي. معمولاً پتاشيم د تيلو خاورو په منځ کې ساتي تر څو د آزادې هوا د رسيدو مانع شي او د هغه د اور اخيستو څخه مخنيوی وکړي.

۳۲ - په اوبو باندې د شمعې روښانول:

لوبي کوونکی شمعه روښانوي اوبيا به هغه بنايې مړه کړي بيا وروسته د اوبو څخه نيم ډك ګيلاس اخلي او هغه د شمعې په سرباندې دا رنګه لګوي چې ګواکې په شمع باندې اوبه تويږي. شمع نو ډيره ژر روښانيږي.

www.libtool.com.cn



**د سرته رسولو لاره او طریقه:**

یو څه فاسفورس د یو موم چې کوچنی وي د هغه پواسطه د ګیلاس په بهرنی برخه ځرول شویدي. فاسفورس په لږ حرارت اور آخلي، هغه وخت چې ګیلاس کړه وي فاسفورس په کم حرارت اور او نیم مړه شوي له شمع دانه اور آخلي او د هغه پواسطه شمع بنايي روښانه شي.


## ۳۳ – د سیګریټو حاضرول:

لوبغاړی خپل لاسونه پرانیستي نیسي او ننداره کوونکو ته ښکاره کوي چې هغه مطمئین شي چې د لوبې کوونکي لاسونه بیخي خالي دي. او یو ځل خپلي ګوتي بنده وي، نو په دي وخت کې دده په لاس کې سګریټ پیداکیږي، سګریټ روښانوي او دهغه پر پف کولو سره ځان مصروفوي.

**د سرته رسولو لاره او طریقه:**

یو دایره شکله ګوته چې د نیمې دایري کوږ شکل لري او په هغې پسې یوه ستن هم لیم شویده دغه ستن کولئ شي چې په یوه سګریټ کې دننه لاړه شي او سګریټ یې هم دخپل لاس شاته پټ کړیدي.

www.libtool.com.cn



لوبغاړی څو ځله د لاسونو ورغوي ټولو ته ښکاره کوي د ننداره کوونکو د اعتبار د لاس ته راوړلو څخه وروسته خپل هغه لاسونه بنده وي، تر څو چې هغه سګریت ښکاره نه شي.

## ۳۴ – د ګړۍ د ستنې له کار څخه لویږي:

لوبې کوونکی ننداره کوونکو ته خپل جیبي ساعت ښکاره کوي چې کار کوي او ګرځي هغه وخت ګړۍ د میز په سر ږدي او هغه ته ګوري، څو شیبې وروسته ګړۍ دریږي او داسې ښکاره کوي چې ګواکې د سترګو په لیدو سره یې ګړۍ درولې دي. لوبې کوونکی ساعت بیرته آخلي او ټولو پیل کوونکو ته یې ښکاره کوي چې ګړۍ ګرځي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه:

ساعت دا رنګه دي چې ټول ماشین فلزي دي او لوبې کوونکی د وړاندې یوه قوي او سپین کنبن (آهن ربا) چې د میز پر سر تر پردې لاندې شویدي او یا د لوي کتاب چې د آهن ربا په اندازه سوری شویدي او هلته یې آهن رباه پر ځای کړیده هغه وخت ګړۍ د هغه پر میز ږدي. د مقناطیسي آهن ربا په وسیله د ساعت رقاصه له حرکت څخه پاتې کیږي. کوم وخت چې ګړۍ د هغه د سر څخه اخیستل کیږي ګړۍ بیرته بیا په حرکت پیل کوي.

www.libtool.com.cn


## ۳۵ - مقناطيسي لاس:

يو شمير بېلا بېل شيان، لکه توپ، بشقاب، کتاب، گېلاس، گوگړ نور تيت شيان د ميز پر مخ ايښودل شويدي، لوبې کوونکی اول ښايي د انساني مقناطيسي څخه خبرې وکړي او دخپل ځان صفت به وکړي چې څنگه کولئ شي لاسونه يې د آهن ربا په شان شيان ځان خواته جذب کړي.

په دې وخت کې ښايې چې توپ دميز څخه واخيستل شي او لاسونه خلاص او توپ خوشې کړي په تعجب او حيرانتيا سره به وکتل شي چې توپ او نور شيان به جلا جلا توگه يې پر لاس پورې نغښتي دي بغير له دې چې په ځمکه ولويږي.

### د سرته رسولو لپاره طريقه:

لوبغاړی بيا هم هر څه د ميز پر مخې په مختلف اوږدوالي په نازکه تار چې بې رنگه او لاشتيك ډوله ده . د ميز پر مخ ميخ شويده.



www.libtool.com.cn

هغه وخت چې نوموړي شيان آخلي تار د گوتو منځ کې پريږدي او شيان په ورغوي کې نيسي او دغسې هغه له لوبې کوونکی څخه نه لويږي.

## ۳۶ - عجیبه چوکۍ:

لوبغاړی یوه معمولي چوکۍ چې په میدان کې شته، ننداره کوونکو ته یې ورکوي چې له نږدې یې وګوري چې یوه معمولي چوکۍ ده او بیرته هغه آخلي او داعوه کوي چې هغه پر چوکۍ یې د جادو کړی او تر خپل اختیار لاندې راوستې ده او هغه وخت په مختلفو ځایونو لاس وهي چې وښایي جادو کوي، بیاوروسته چې څوك شاخواته ځي او چوکۍ ته دحرکت د تغیر وضعیت ورکوي.

چوکۍ د مخې خواته کږیږي څه شیبه وروسته بیرته د مخی خواته ځي او لاسونه یې د هغه په شاوخوا حرکت ورکوي، تر څو ننداره کوونکو ته وښودل شي چې کوم شي په چوکۍ پورې اړه نلري.

خپل ځاي ته تغیر ورکوي او بیا یو ځل چوکۍ ته امر کوي چې له دې خواو بلې خواته حرکت وکړي او په آخر کې چوکۍ خپل همکار ته ورکوي چې له ساحې څخه خارج شي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه!


یو نایلوني بې رنګه تار چې نری وی، لوبغاړی تر ملا تړلې دي او د چوکۍ سره کنج (څنډه) کې وصل شویدي.

هغه وخت چې لوبغاړې د چوکي په لورې ګرځي. چوکي دده خواته کش کیږي. په ځینې ځایونو کې چې بې رنګه نایلوني تار پیدا نه شي، لوبې کوونکی د یوه تور نازك تار څخه استفاده کوي په هغه حالت کې دا تار نه معلومیږي.

www.libtool.com.cn

## ۳۷ - خالي یا د شربت ډک ګیلاس!

لوبغاړی تاسې ته یو لوی د ناشکن ګیلاس په ننبه کړي او وایې چې په دغه ګیلاس کې شربت شته او تاسې نه ګورئ. د تاسې د باور د جلبولو دپاره ننبایي هغه ګیلاس تاسې ته درکړي چې له نږدې څخه وګورئ او مطمئین شئ. وروسته به هغه یو کوچنی ګیلاس د یو غټ قیف سره تاسې ته ښکاره کړي چې ګیلاس خالي دي. هغه وخت قیف دهماغه ګیلاس په سر کیږدئ او غټ خالي ګیلاس چې اول تاسې ته ښودل شوي و، د قیف په سر ړدي، چې ګواکې غواړي شربت د قیف په واسطه کوچني ګیلاس ته واچوي. ښایي په تعجب کې پاتي شئ، ځکه تاسې به وګورئ چې کوچنی ګیلاس له شربت څخه ډک کیږي. بیا به شربت په دوو برخو وویشي، نیم په غټ ګیلاس کې اچوي او خپله یې څکي. نیم به ننداره کوونکو ته ورکړي چې وي څکي، تر څو معلومه شي چې ربنتیا سره هم شربت دی.



www.libtool.com.cn

**د سرته رسولو لاره او طریقه!**

د ګیلاس ښودل چې غټ او خالي دي، لوبي کوونکی پر ډکولو د هغه یوازې دننداره کوونکو د فکر د تیر ایستلو له پاره دي او یو فرعي مطلب دي.

اصلي موضوع په قیف کې خلاصه شویده. او هغه څرنګه؟

د نوموړی قیف به دننه کې د شربت لپاره ځایه جوړ شویدي. د قیف تر شا سوری شوی دی چې د ګوتو پر فشار دغه دروازه ښایې خلاصه شي. لوبي کوونکی له وړاندې قیف له شربت څخه ډک کړیدي. کوم وخت چې لوبي کوونکی وښیي چې د غټ ګیلاس څخه د شربت تویوي. د لاس لاندې دروازې قیف ته فشار ورکوي چې له قیف څخه شربت توی شي.

**۳۸ – خبرې اوریدونکې هګۍ!**

لوبغاړی شاید ننداره کوونکو ته څو هګۍ وښئي او له دو تنو به وغواړي چې حاضر شي او یوه یوه هګۍ غوره کړي، د هغوی پر مخ خپل نومونه هم ولیکي. بس یو هګۍ ته به ووایې چې د اوبو پر سر ودریږي او بله هګۍ ته په ووایی چې په سر وردریږي د اوبو لاندې ودریږي. ښایی چې دشیشې د لولې خوند چې له وړاندې تیار شوې دي هم وځکي.

هغه وخت یو هګۍ د اوبو په سر او دوهمی هګۍ تر اوبو لاندې شيّ او تاسې په حیرت او تعجب کې واچوي.

**د سرته رسولو لاره او طریقه:**

لوبې کوونکی له وړاندې څخه یوه مقدار مالګه په یوه لوښي کې چې اوبه پکې شته په هغو اوبو کې حل کوي چې ۲۴ ساعته پرې تیر شویدي. وروسته هغه په یو بل لوښې کې خالي کوي او د هغه په رسوباتو باندې ۲۴

ساعته نور هم تیر شویدي چې د هغه رسوبات بیخي برطرف شي او مالګیني اوبه لکه پاکې اوبه ښې پاکې شي او له هغو اوبو سره بیا چې مالګه نلري څه فرق ونکړي.

هغه وخت په یوه شیشته یې لوله کی خالصې اوبه او په بله لوله کې د مالګې اوبه لري. شرط دغه دي چې هګۍ تازه او سالمې وي. هغه هګۍ چې په خالصو اوبو کې اچوئ د اوبو لاندې راځي او هغه هګۍ چې په مالګه کې اچول شوي دي د اوبو پر مخ وي، ځکه د هګۍ کثافت د اوبو له کثافت څخه کم دي.

## ۳۹ – د پنجې غږ په چیني لوښي کې اوریدل کیږي.

لوبغاړی ښایی دري قابونه یا دري ګیلاسونه سره د یوه پنجه تاسې ته وښئی. او د پنجې په واسطه پر بشقابونو او یاګیلاسونو یوه نغمه وغږوي ښایی په تدریج سره پنجه د بشقابونو یاګیلاسونو له یوې فاصلې لرې او ډیر لرې سي او د پنجې په اشاره دموزیك په غږولو ادامه پیداکوي او تاسې به حیران کړي او دغه کار ښایي تر ډیره وخته دوام وکړي.

### د سرته رسولو لاره او طریقه!

لوبغاړې بیا هم یو موزیك له ځان سره لري. چې د فشار پواسطه د هغه غږ لکه د پنجې وهل په بشقاب یاګیلاس بهر راځي هغه دخپل جیب یا د لاس په ورغوي کې پټ کړی دي او یا هم د بل چا لخوا چالان او کنترول شي.

## ۴۰ – عینکې پورته ورځي یا الوځي:

لوبغاړی ښایی وغواړي عینکي چې په سترګو کې یې لري. هغه د پوښ پر منځ کې کیږدئ. هر څومره کوښښ کوئ چې عینکی د پوښ دننه (قوتی)

www.libtool.com.cn

کې ځاى پر ځاى شي، عينكې بيرته بيا له قوتي څخه بهر كيږي، هر څومره چې كوښښ كوي د فشار سره چې د پوښ په دننه كې كيږدي بيرته بيا عينكې د پوښ څخه بهر كيږي، مجبوراً عينكى بيرته بيا په سترګو كوي.

## د سرته رسولو لاره او طريقه:

يو لنډ لاشتيك يې د عينكو په داخل كې ګنډل شوى، هغه وخت چې عينكى پوښ ته دننه كوي، لاشتيك يې نه پريږدي چې په پوره ډول پوښ ته ننوزي په هغه حالت كې لوبې كوونكى بنايي مجبور شي چې بيرته عينكې په سترګو كړي.

## ۴۱ – د كاغذي لولې په منځ كې اوبه

لوبې كوونكى بنايي ډيرې خنداورې خبرې او لافې شافې هم وكړي بنايي كاغذي لوله وتړي او خلاصه كړي، څو ځلې به دغه كار تكرار كړي او په ظاهري صورت كې هغه به دميز پرمخ كيږدي اوبيا به يې واخلي به غير له دي چې دمقصد څخه ستاسې خبركړي د كاغذ لوله به تاسې ته ښكاره كړي.

بيا به يو ګيلاس اوبه وغواړي، نيمايى به وڅكي، او نيمايي يې به په همدغه لولې كې واچوي. مګر يو څاڅكى اوبه هم د لولې څخه نه توېږي، بيا هم د كاغذ لوله سرچپه كوي بيا به هم اوبه ورڅخه نه تويږي. بنايي بيا هم كاغذ د ميز پر مخ هوار كړي او بنايي تاسې ته وښيي چې په هغه كې يو څاڅكى اوبه هم نشته.

www.libtool.com.cn

**د سرته رسولو لاره او طريقه!**

لوبغاړې له وړاندې يوه فلزي لوله د ليدونکو د سترګو څخه لري د کلولې په منځ کې د پُنبې يا پختې څخه ډکوي د کاغذ په خلاصولو او بندولو په تيزۍ او چالاکۍ سره لوله د کاغذ په منځ کې اچوي. کوم وخت چې اوبه په هغه کې توئيږي پُنبه يا پخته اوبه جذبوي. د کاغذي لولې دخلاصولو په جريان کې په چالاکۍ سره فلزي لوله د هغې څخه لرې کوي. يوازې کاغذ پاتې کيږي چې هغه دميز پر سر هواروي او تاسې به ورته حيران پاتې شئ.

**۴۲- د پيسو او اعدادو خوښول او د هغوي محاسبې پيدا کول:**

لوبغاړې ښايې تاسې ته د کسبونو په اړه ووايې چې تاسې په خپل فکر کې ستاسې د خوښې يو څه روپۍ وټاکئ. بيا به ووايې چې هماغه اندازه نورې پيسې د هغه لپاره وټاکې. او دواړه جمع کړئ.

وروسته ښايي ووايي، چې مثلاً نورې لس زره افغانۍ هم ورباندې اضافه کړئ او همدارنګه شپږ زره افغاني دهغه بل دوست څخه واخلئ او په ټولويې ور جمع کړی!

هغه وخت به ښايي له ستاسې وغواړي چې ټولې پيسې نيمې کړی او نيمې پيسې ايسته واچوئ. او له پاتې پيسو څخه ځلور زره افغانۍ ددد فلانې دوست ته ورکړی.

هغه وخت به تاسې ښايي ووايي چې هغه پيسې دې چې دی ته ټاکلې دي بيرته ورکړی. شوې پيسې ټولې به ځلور زره افغانۍ وي.

www.libtool.com.cn

## د سرته رسولو طريقه

دغه محاسبه د لاندې فورمول پواسطه هم اجراء کيږي:

لوبي کوونکی نه پوهيږي چې تاسې کومې پيسې غوره کړيدي، اول عدد دلته انتخاب شويدي چې خپل ځانته مو غوره کړيدي. معادل پيسې دي چې د لوبي کوونکی د پاره انتخاب شويدي او په ترتيب هغه پيسې دي چې لوبي کوونکی ويلی دي. کوم وخت چې ټولې پيسې جمع کړئ او بيا هغه نيمايي کړئ، نيمائې ارقام چې تاسې ته وايی چې ځانته مو غوره کړيدي، تاسې سره باقي پاتې دي. پيسې چې ځانته مو ټاکلې کميږي. پيسې چې تاسې سره پاتې کيږي نيمايي پيسی دي، کومې چې تاسې ته يې ويلی دي چې د هغې په ليدو سره د ارقامو په حساب شروع کوي او په يو مناسب فرصت کې ښايی ووايې چې څومره پيسې تاسره پاتي دي.

## د مثال په توګه

لوبغاړی ټولې (۱۶۰۰۰) شپاړس زره افغانۍ تاسې ته يې ويلی و چې د هغه له دوو دوستانو څخه واخلې. کوم وخت چې دغه پيسې نيمايی شي (۸۰۰۰) اته زره افغانۍ کيږي او له باقي (۸۰۰۰) اته زره افغانيو. (۴۰۰۰) څلور زره افغانۍ يې هغه دوست ته ورکوي بس (۴۰۰۰) څلور زره افغاني له تاسره پاتي کيږي. کومې پيسې چې تاسو ځانته ټاکلی وي، کله چې تاسو پيسی نيموئی همغه له منځه ځي او يوازې د هغی په اندازه چې د هغه لپاره ټاکلی دي پاتی کيږي. چې همغه پيسې هم له تاسو څخه غواړي چې بيرته هغه ته ورکړئ.

www.libtool.com.cn

## ۴۳ – د حساب ماشين يا دخط پاکټ!

لوبغاړي بنايي يوبند پاکټ له خپل جيب څخه راوباسي او تاسي به يې سترګو ته ونيسي چې ګورئ. بيا به له تاسې څخه وغواړي چې په خپله خوښه يو درې رقمي عدد د صفر څخه بغير پر يو کاغذ وليکي تاسې. د مثال په ډول يو عدد (۵۴۲) غوره کړئ په داسي حال کې چې ټاکل شوی عدد هيڅ وخت لوبي کوونکی ته نه بنايې (نه يې ګوري). له تاسې غواړي چې دغه عدد معکوس يا سرچپه يعني (۲۴۵) جوړ کړئ اوله تاسې به وغواړي چې دغه عددونه يو د بلځه څخه منفی کړی چې ددغې حاصل (۲۹۷) کيږي او بيا هم له تاسی نه وغواړی چې دغه عدد هم سرچپه يعنی (۷۹۲) او دواړه عددونه جمع کړی يعنی ۱۰۸۹ = ۷۹۰ + ۲۹۷ که نتيجه يې ۱۰۸۹ مخکې له مخکی په پاکټ کې ليکل شويدي.

### د سرته رسولو لاره او طريقه!

د درې رقمي عددونو د تفريق نتيجه د هغه معکوس سره، که چيرې حاصل د معکوس عدد جمع کړئ ترينه (۱۰۸۹) جوړيږي چې دا د رياضي د علم څخه يو قانون دی.

## ۴۴ – د حساب ماشين يا کمپيوټر سره لوبه:

لوبې کوونکی به غير له دې چې د کمپيوټر پاڼه چاته ښکاره کړي. بنايي دکمپيوټر پر مخ (۱۰۸۹) عدد وليکي او هغه بنه غټ يا يې ښکاره کړي او حفظ يا کړي او په خپله هم دکمپيوټر څخه لري ولاړ شي او د ننداره کوونکو سره کيني.

هغه وخت به له تاسې څخه وغواړي چې یو دري رقمه عدد به غیر له صفره په پټه غوره کړئ او د کاغذ پر مخ یې ولیکئ. د مثال په توګه (۵۲۷) بیا به له تاسې څخه وغواړي چې عددونه په معکوسه توګه ولیکئ، دمثال په توګه (۷۲۵).

بیا تاسې ته ښایي ووایي چې دغو عددونو یو له بله تفریق کړئ. یعنې ۱۹۸ = ۵۲۷ - ۷۲۵ چې حاصل یې ۱۹۸ کیږي. ښایي بیا هم ووایي چې دا نوی عدد هم معکوس یعنې (۸۹۱) او وروسته دغه دواړه عددونه جمع کړي چې دجمع حاصل یې (۱۰۸۹) کیږي. او کمپیوټر پخپله ټولې عملیې تر سره کړي او د کمپیوټر یا د حساب د ماشین پر صفحه باندې مخکې له مخکې لیکل شوي دي.

**د سرته رسولو طریقه:**

د هرو دري رقمیزو عددونو او د هغه معکوسه اعدادو د تفریق نتیجه (په غیر له صفر لرونکو اعدادو) د معکوسو اعدادو دجمع سره (۱۰۸۹) کیږي چې دا د ریاضي دعلم څخه یو قانون دي

## ۴۵ : د سیم څخه د اوسپنې حلقي تیرول او د جایزې اخیستل:

لوبغاړې ښایي تاسې ته لویه صندوقچه ښکاره کړي چې د شیشې په مخ یو برقي لین، چې پوښ نلري او لوڅ دي نصب شویدی. د سیم یوې خواته یوه د وسپنې حلقه د یو بل سیم سره وصل شویده. د دواړو سیمانو آخیر د یوه برقي زنګ سره تړلئ دي چې په دوو بالټیو کار کوي. لوبې کوونکي به ښایي له تاسو وغواړي چې فلزي حلقه د یو سیم دسر څخه تر سیم آخره پورې د شیشې پر مخ تیره کړې چې زنګ غږ ونکړي او جایزه واخلې؟

www.libtool.com.cn

له هغه ځایه چې دواړه سیمونه په یوه برقي جریان سره وصل دي. چې هغه د بالتي پواسطه کارکوي او تاسې چې څومره کوښښ وکړئ چې حلقه د سیم څخه بدون له دې چې زنګ غږ وکړي، تیره کړئ چې په دې کار به هیڅکله بریالي نه شي. زنګ حتماً غږ ورکوي.

هغه وخت به لوبي کوونکی حلقه په خپله په لاس کې واخلي، دوه دری ځلي د یو سر څخه بل سر ته په آسانۍ تیر کړي. بغیر له دې چې زنګ غږ وکړي. او تاسې به حیران کړي.

**د سرته رسولو لاره او طریقه!**

په مختلفو دلیلونو سره هیڅ مستقیم میخانیکي حرکت په نړۍ کې موجودیت نلري.

ددې خواصو په پام کې نیولو سره هغه وخت چې تاسې یا ستاسې دوستان یوه حلقه په لاس کې اخلي چې له یوې خوا څخه د بلې خواته یو لوڅ سیم چې پوښ نلري تیر کړي، د تاسې د لاس حرکت یوه انحناء یاکوږوالی پیداکوي چې ددې کوږوالي انحناء. حلقه دسیم سره په تماس کې کیږي. یو برقي یا بریښنا یي جریان مینځ ته راوړي چې د هغه د اثر له مخې زنګ غږ کوي.

اما څه وخت چې لوبغاړی لوڅ سیم څخه حلقه په خپل لاس اخلي، د لاس د غتې ګوتې نوک د لوڅ سیم سره لګوي او هغه وخت حلقه یوه معلومه فاصله له سیم څخه لرې ساتي او په آسانۍ سره حلقه د سیم له یوې خوا څخه بلې خواته حرکت ورکوي.

له هغه ځایه چې نوکان په خپله د بریښنا جریان عایق دي، د زنګ غږ ولو په اړوند کوم جریان نه راولي او زنګ هم غږ نکوي او تاسې کولی شئ چې جېزه هم واخلئ.

دريم ځپركى:

# د راتلونكي له پاره څو هيلي او اميدونه

درنو لوستونكو! ددې برخې مطلبونه پراخه او څيړنيزې موضوع ګانې مطرح كوي چې ډيرې څيړنې او تجربو ته اړتيا لري. دا موضوع ګانې د مضمونونو، مقالو او څيړنيزو وړانديزونو په ډول دي چې څو كاله وړاندې ليكل شوي دي او يوه برخه يې د دانا مجلې د لمړۍ، دوهمه او دريمه ګڼو په ترڅ كې د ۱۳۷۴ - ۱۳۷۵ هـ. ش كالونو په منځ كې چې ما په پېښور كې مې ددغې مجلې مسئول مديريت په غاړه درلود، چاپ شويدي. په افسوس سره چې نور كارونه مې درلودل او مصروف وم دغه سلسله مقالې نيمګړې پاتې شوې. هيله من يم د پاملرنې سره، پانګې اچونې، څيړنې او دعالمانو په همكارۍ د هغې پر عملي جنبې باندې برياليي شو او د نړيوالو په همكارۍ به د مشكلاتو، بېچارګيو او ناوړو پېښو ته به انشا الله د پاى ټكى كېښودل شي.

په دې اړوند چې وېل شويدي وپوهيدل توانيدل دي بايد څه غور او پاملرنه وشي. چې د ژوند په شيبو كې هر توانيدل، پوهيدل او هر ډول پوهيدل، به توانيدل نه وي.

دغه مسئله د راتلونكي لپاره د څو هيلو په مطرح كولو سره كيداى شي چې روښانه شي. كه څه هم دغه هيلې د موجودو علمي او تخنيكى امكاناتو په پام كې نيولو سره د هغې عملى كيدل مشكل دى. خو په راتلونكى كې ناممكن نه برېښي.

www.libtool.com.cn

تر اوسه پورې دغه امیدونه نظري جنبه لري. هیله من یم چې ددغه خیړني دعالمانو او د علومو د متخصصینو په زیاتو هڅی او هاند سره په حقیقت بدل شی چې د بشري ټولني په خدمت کې استعمال شي. زموږ پیغمبر حضرت محمد(ص) فرمایلي دي: (آرزو او هیله زما د اُمت لـه پاره د رحمت په شان دي). له دې کبله د شیرینی په وړاندی کولو سره تاسې ګرانو لوستونکو ته غوښتنه کوم. چې آیا غواړي په راتلونکی کې کوم ډول شیرینی ګانې نوش جان کړئ. چې د اوبو دترکیب او لوګي یا دود څخه په لاس راځي او یا هغه قند خورئ چې له اوبو او سکرو څخه جوړه شوی وي.

## ۱- هغه قندونه چې د اوبو او لوګي څخه لاس ته راځي:

د شك ځای نه دي چې نباتات د کیمیاوي موادو او اوبو څخه په ګټې. عضوي او غیر عضوي کیمیاوي مواد، چې د ریښو پواسطه اخلي او د کاربن دای اکساید $CO_2$ اکسیجن ($O_2$) او نایتروجن ( ) چې د خپلو پاڼو پواسطه له هوا څخه آخلي د لمر د وړانګو او حرارت په موجودیت د ضیایي ترکیب پواسطه یا فوتوسنتیز (Photosynthesis) خپله غذا چې مهمه برخه یې قندي مواد دي، تهیه کوي.

قندی مواد په عمومی توګه په دري ډوله ویشل شوي دي. یو قمیته قند، دوه قیمته قند او څو قمیته قندونه. کیمیاوي فورمول (ترکیب) یو قمیتي قندی مواد ($C_6H_{12}O_6$) او همدارنګه د اوبو کیمیاوي فورمول ($H_2O$) دي.

قضاوت تاسې ګرانو لوستونکو ته پریږدم. هغه وخت چې یوه ضعیفه ګیاه یا وابنه وکړی شي اوبه او کاربن دای اکساید په قند بدل کړي آیا موږ

انسانان به ددغه ډولو اختراعاتو. کشفیتو. علم او عقلي امکانتو سره په دا رنګه قند جوړولو بریالي نه شو؟

د سعدي علیه الرحمه په قول:

*((ابرو بادو مه و خورشید و فلك در کار اند))*

*((تا تونانی به کف آری و به غفلت نه خوری))*

یعنی وریځ باد. میاشت. لمر او آسمان په کار لګیا دی

تر څو. ته ډوډی په لاس راوړې او په غفلت یې ونه خوری

کیمیاوي معادلاتو سره سم شپږ مالکوله کاربن دای اکساید په شپږ مالکوله اوبو کې منحل شي د هغه نتیجه حاصل به یوه مالکول قند او ۶ شپږ مالکوله اکسیجن وي. یعني:

$$6CO2 + 6\ H2O \longrightarrow C6\ H12\ o6 + 6O2$$

**۲-هغه قندونه چې د اوبو او د سکاره وله ترکیب څخه لاس ته راځي.**

هر وخت چې هغه قند چې داوبو او لوګي څخه (CO2) په لاس راځي تاسې ته خونده وره نه وي کولی شي چې هغه قندی مواد نوش جان کړئ چې د اوبو او سکرو دترکیب څخه په لاس راځي، یعني د ۶ مالکولو دترکیب سکره. (C6) له ۶ مالکوله اوبه H2O، چې د هغه نتیجه یو قیمته قندي مالکول چې C6H12O6 به وي یعني:

$$6C + 6H_2O \longrightarrow C6H12O6$$

www.libtool.com.cn

### ۳-څنګه کولی شو چې د اوبو او د لوګي د ترکیب څخه نورو عضوي مرکبات لاس ته راوړو؟

کیمیا پوهان وایي چې تیل. ګاز قندي مواد او شحمیات د عضوي مرکباتو له جملې څخه دي چې په عمومي او طبیعي توګه د حیواني او یا نباتي منابعو او یا په مصنوعي صورت په لاس راځي او د هغو تحقیقاتو له پلوه چې شویدي.

تر اوسه پورې دوه نیمه ملیون عضوي مرکبات کشف شویدي، چې البته د عضوي موادو د ترکیب په څرنګوالي کې د حرارت یخنۍ او فشار فکټورونه، اساسي او عمده رول لري. پوهان همدارنګه اساسي علت د عضوي مرکباتو د کیمیاوي خواص، او د کاربن د جوړښت خواص یې بولي. څکه د اتوم کاربن چې د آخر مدار کې د ۴ څلورو الکترونو درلودونکی دي. دکیمیاوی مختلفو تعاملاتو الکترونونه د نورو عناصرو سره ګډوي او بیلا بیل مرکبات منځ ته راوړي.

د مثال په توګه کاربن د هایدروجن سره تعامل کوي هر آتوم د هایدروجن دکاربن ۴ الکترونه مشترك لري. څکه څلور آتومه د هایدروجن د کاربن د یو اتوم، د میتان ګاز CHu جوړوي.

نفت په عمومي صورت او په خاصه توګه د موټر تیل (C8H16) او یانبترین C6H6 مخلوط د هایدروجن او کاربُن دي چې دځمکې لاندي د جامد . مایع او ګاز په توګه پیداکېږي او د هغ=وی له جملې څخه نفت ډیر زیات مصرف لري.

www.libtool.com.cn

البته مایع نفت د تصفیې د عملي څخه وروسته په لاس راغلي دي او د هغه څخه د جامد په توګه جلا کیږي چې دغه د بیلیدلو عمل د تقطیر په صورت سره حاصلیږي.

د نفت او ګاز معدونه په منځني ختیځ، روسیې، امریکا، او د نړۍ په نورو برخو کې موجود دي. همدارنګه مقدماتي تحقیقات چې شویدي، د نفت او ګاز مهم معدنونه د هیواد په شمال او شمال غرب د افغانستان کې هم شته دی. چې له نوموړو ذخیرو صرف یو څه مقدار ګاز استخراج شوي او روسي ته صادریږي.

د نفتو پیدا کیدل په ځمکه کې دي چې فلزات، او خاصتاً ځمکنی القلي فلزات له موجوده هایدروکاربن سره موجود چې دځمکې لاندې اوبو سره تعامل کوي او د تعاملاتو د وجې نفتي مواد حاصلیږي، دځمکې لاندې زیرمي د استادانو له نظره نفت زره بیني، نباتی حیواني موجودات په اوبو کې ژوند کوي، هم په لاس راځی. چې هغه د خاصو حیواناتو پاتي شوي چې میلونونه کاله وړاندې په اساس د تیټ او جګ کیدل د ځمکې، به لوړي ژورې دځمکی په سطح لاندې تللي وي (وروسته کیمیاوي تعاملاتو پر اساس په نفتو تبدیل شویدی).

هغه نفت چې د برمه کارۍ پواسطه له ژورو ځاه ګانو څخه په لاس راځي. لپاره د تصفیی د جامدو موادو، او نیم جامد په تدریجي تقطیر په مختلفو درجو سره حاصل کیږي.

نو ددې تحقیقاتو نتیجي لیدل. انسان په دې فرضیه هیله من کوي چې خامخا یوه ورځ به وکړی شي چې په مصنوعي توګه هم نفت په لاس راشي. او یوه طریقه یې بنایی هغه نفت وي چې د اوبو او لوګي د ترکیب څخه په لاس راځي. څرنګه چې ۸ مالکوله اوبه ($8H_2O$) د ۸ مالکوله کاربن دای

www.libtool.com.cn

اکسـاید $8CO_2$ کولـی شـو چـې یـوه مـالکول د مـوټرو تیـل سـره لـه مالیکونـه اکسیجن $12O_2$ په لاس راځي. یعنی دا چې:

$$8H_2O + 8CO_2 \longrightarrow C_8H_{16} + 12O_2$$

نفت کیدای شي چې د مالیکولي تراکم په طریقه سره هم په لاس راوړل شي په دې طریقه لوي مالیکولونه چې د موټرو د تیلو فارمول لرونکی دي تولیدوي. دغه تجربه د کم او ټیټ حرارت موجودیت سره، کتالسیت لکه د المونیم سلفاید $Al_2SO_4$ وي.

همدارنګه کیدای شي چې نفت د تجربې پواسطه د اته مالیکولو د متان ګاز څخه د شکل د تغیر ورکولو په واسطه هم په لاس راشي یعني:

$$8CH_4 \longrightarrow C_8H_{16} + 8H_2$$

**۴ – د متان (دسوند) د ګاز $CH_4$ استحصال داوبو او د لوګي له ترکیب څخه:**

طبیعي ګاز د ګازونو دترکیب لکه $CH_4$ متان ایتان $C_2H_6$ هایدروکاربن او غیـر عضـوي ګـازات لکـه $N_2$ نـاتیروجن ($O_2$) اکسـیجن ($H_2S$) هایدروسلفاید او نور په لاس راځي.

په طبیعي ګاز کې ۹۰٪ نوي فیصده میتان $CH_4$ وجود لري.

طبیعي ګاز د پخلني له پاره ډیر اهمیت لري. متـان د یوه اتوم کاربن او څلور آتومه هایدروجن څخه جوړ شوی دی چې په نتیجه کې آخرني مدار د کاربن او هایدروجن مشبوع کیږي.

میتـن هغـه ګاز دی چې د عضـوي مـوادو د خرابیدو لـه وجې د هـوا پـه فقدان کې د الکتـرون پـه موجودیـت سـره جوړیږي. لـه دې وجې دغـه ګاز د خندقونو د ګاز په نوم هم یادیږي.

تقریبـاً پـه سـلو کـې نـوي فیصـده د ډیرو سـکاره او نـور طبیعـي منـابع د متـان ګـاز تشکیلوي او د پطرولو په زیرمو کې هم وجود لري. اوس په ډیرو

www.libtool.com.cn

ځایونو کې د افغانستان په شمول هغه سیمې چې نفت لري استخراجیږي د هغه څخه بیا د سوخت موادو په توګه استفاده کیږي.

که چیرې یو مالیکول د میتان ګاز (CH4) د دوو مالیکولو اکسیجن په موجودیت کې وسوځوو. د هغه نتیجه به یو مالیکول د کاربن دای اکساید ګاز، دوه مالیکوله اوبه او څه نوري او حرارتي انرژي وي یعني:

$$CH_4 + 2O_2 \longrightarrow 2H_2O + CO_2 + light + E$$

میتان په ډیرو طریقې سره تولیدیږي چې یوه له هغو طریقو څخه، د دو مالیکولو ترکیب اوبه $H_2O$ اویو مالیکول $CO_2$ کاربن دای اکساید دي. چې د هغه نتیجه به یو مالیکول دیتان ګاز او دوه مالیکول اکسیجن وي. یعني:

$$CO_2 + 2H_2O \longrightarrow CH_4 + 2O_2$$

**۵ - په سرو زرو (Au) باندې د مسو او نورو فلزاتو د بدلیدلو امکانات:**

بنایي چې Au یا طلا له لومړني فلزاتو څخه وي چې انسانانو له تاریخ څه پخوا په دوره کې (Prehistory) هغه پیژندلي دي. امکان لري دغه فلز چې د ښکلي زیړ او سور رنګ درلودونکی او هم نرم دي چې انسانان کولی شي له هغه څخه په آسانه توګه کټه واخلي.

څکه طلا داسې یوه فلز دي چې له زرګونو کالو راپه دی خوا ورڅخه ګټه اخیستل کیږي چې انسانان د کانو او زیوراتو له پاره سره هم له طلا څه کار اخلي.

سره زر همدارنګه د استحکام، دوام، وزن، رنګ او کیمیاوي شکل د هغه د متبادلي تول جنسونه او تجارتي موادو په مستقیم صورت سره د راکړې او ورکړې دتجارت لپاره او تجارتي کالي بیا مستقیماً د تجارت لپاره استعمالیږي.

www.libtool.com.cn




د کابل ښار د پل باغ عمومي ته نژدې یو نوی د سره زرو یو مارکیټ

www.libtool.com.cn

سره زر یو ملاتړ چې نړۍ واله ملاتړ هم ورته وایي او د نړۍ د ملکونو د اقتصاد له پاره شمیرل کیږي. ولې ناوخت به نه وي چې د ډیرو پټو اسرارو او د طلا جوړول د یوې نوي اختراع په حیث، امکان لري د نړۍ دملاتړ د اسعارو طلا یا (Au) په نړۍ کې د هغې پیدا کیدل په زیاته اندازه چې ملیون ملیونه د کاڼو پارچې کیږي د نړۍ د بازار څخه اخلي، نو هغه وخت راتلونکي نسلونه د دنیاله دې راکړې ورکړې چې معمول تجارت، چې ملیونونه ټنه غنم، نفت او نور په زرګونو رنځونو، زحمت خوارۍ سره تولیدیږي. او یو څه شمیر د بانک نوټونه یا طلا تبادله کیږي د پای ټکی کیږدي

ښایي په هغه وخت کې وروستني نسلونه له دې بیرحمانه جنګونو او وژنو چې صورت نیسي، یا هغه وخت چې څه پیښیږي وخاندي او په حکایت وکړي چې د تاریخ په اوږدو کې داسې دوره هم وه چې طلا یا سره زر دیو ګران او ارزښتناکه، تجارتي، پشتوانه په توګه هم په نړۍ کې په کار لویږي.

## د سرو زرو کیمیاوي او فزیکي خواص:

سره زر چې آټومي وزن یې (197) آټومي نمبري (79) او (6) مداره یا دوري لري چې په لومړی مدار کې ۱۲ الکترونه. دوهم مدار کې (۸) په دریم مدار کې (۸) څلورم مدار کې ۳۲ پنځم مدار کې (۱۸) او په شپږم مدار کې (۱) الکترون دي.

علاوه پر دې دهغه د اتحاد قوه یا ولانس یې (+1) دي.


طلا یا سره زر په طبعیت کې هم په خالص حالت پیدا کیږي او معمولاً په کوارتز ($S,O_2$) او یو رنګه ځانګړي بلوري تیګی پیداکیږي چې البته دغه تیګي د اوبو پواسطه. هوا، باد، باران او نورو عواملو تخریب کیږي له ډیرو دریابو څخه لکه د کوکچي دریاب د افغانستان چې ګرد شکله او کوچني ریګونو سره په اوبو کې پیدا کیږي.

په همدې دلیل داسې فکر کولي شو چې له ملیونو ټنو زیاته طلا Au د بحرونو په اوبو کې موجود وي.

سره زر ژیړ رنګ او بعضې وخت کیدای شي سره ته مایل رنګ سره هم پیداشي.

دغه فلز د (1065c) درجه حرارت کې ویلی شي او کهچیرې ډیر حرارت ورکړ شي په بخار تبدیلیږي. نسبت ټولو فلزاتو ته درانه هم دي.

www.libtool.com.cn



د کابل په ښار کې د پل باغ عمومي ته نږدې د سرو زرو په مارکیټ کې یو دکان او دې هغه مراجعین

www.libtool.com.cn

**د مس او نورو فلزاتو بدلیدو په سرو زرو او د هغه امکانات:**

تر اوسه پورې ډیر دلیلونه او شاهدان شته چې د مسو او بعضې نورو فلزاتو تبدیلیدل په طلا یا سرو زرو سره کیدای شي، چې دغه امکانات په دوو کتګوریو تر بحث لاندې نیول کیږي!

الف: نقلي شواهد او دلیلونه

ب : عیني شواهد او دلیلونه

الف: په ډیرو دیني او خاصتاً د اسلام سپیڅلی دین د ارشاداتو له مخې د یو تعداد عناصرو تبدیلی کیدای شي لکه څنګه چې راغلي دي. الله تعالی(ج) ټول موجودات په علم، قدرت، اراده، او قدیمی حکمت د یو واحد (نور) څخه پیدا کړیدي.قرآن کریم فرمایلي دي:

(غير له دي نه دي حکم د خداي(ج) دا رنګه دي چې څرنګه غواړي پيدا به کړي (څنګه چې اراده وکړي) وبه وايي چې پيدا شه! پيدا به شي.

د قصص الانبيا فارسي په ۱۲۶ - ۱۲۹ مخونو کې دا رنګه حکايت راغلی دي چې د Cu مسو د بدليدل په Au طلا او همدارنګه د برنج (Aush) په نقره يا (A9) سره تبديلدی شي حکايت دادی.

څرنګه چې موسی (ع) خپل قوم ته وويل چې دتورات شريف نسخې جوړې کړئ او ويې لولئ او په هغه عمل وکړئ. هغوی نسخې جوړې کړي. د خدای(ج) فرمان راغی چې ای موسی(ع) ووايه چې دغه تورات شريف په قسما قسم زينتونو سره ښکلی کړئ.

موسی عليه السلام ويل چې ای الهي موږ څه شی نه لرو چې تورات ښکلی کړو. نو جبرائيل(ع) راورسيد او ويې ويل چې ای موسی(ع) وابنه (ګياه) چې ما ويلي وو چې له دی ونبو (ګياه) څخه خسکي (ګوساله) وسوزوه.

هغه وابنه له دوو نورو ډولو وابنو سره رګډ کړه. که چيری په مس باندې ووهي طلا (سره زر) او که چيری پر برنج سره ووهی ترينه نقرې جوړيږی.

او د خوسکي قيصه دارنګه ده.

د بني اسرائل په قوم کې يو زرګر وو چې سامري نوميده او د موسی(ع) خوريې کيده. د فرعون اود فرعون د لښکريانو د غرقيدو په وخت کې سامري جبرئيل(ع) د يو سپور سړي په شان وليد چې پر يو سپين آس ناست دی. څنګه چې دده آس قدم واخيست د هغه آس د قدم لاندې وابنه پيدا کيده. سامري پوه شو چې دغه سپور شخص جبرئيل(ع) دي چې د موسی (ع) مرستې ته راغلی دی. سامري د آس لاندې څه د ختې واخيستلې او فکر يې کاوه تر څو چې خوسکئ يې جوړ کړه.

نو هغه وخت سامري د بني اسرائيل قوم جمع کړ او ويې ويل:

دا شل ورځي شوې چې موسي (ع) د اويا تنه سپين ږيرو په ملګرتيا د طور غره ته تللی دي د موسی(ع) خدای ماته خبر راکړ چې هغوی مړه شول. که چيرې غواړئ چې د موسی(ع) خدای تاسی ته ښکاره کړم تر څو احوال يې ووايی؟

خلکو وويل چې سمه ده سامري د يو خسکئ په جوړولو پيل وکړا و خلك د هغوي په خوښه او خوشحالۍ سره هر يو زيورات او دينار راوړي اورته واچوی، زر په اوبه شو تر څو چې قالب ډك شو سامري اور مړ کړ. قالب يې واخيست او پاك يې کړ او هغه وخت يې بني اسرايل ته يې وويل:

راځئ سجده وکړئ، يو بل پسې ولويدل، سامري د هغه د ګياو څخه دخسکي په خوله کې ورکړه چې په خبرو راغی، څنګه چې بني اسرائيلو واوريد، سامري وويل چې دادي ستاسی خداي او دموسی (ع) خداي. د موسی (ع) قوم دغه خوښه کړه او سجده يې ورته وکړه او په خوسکي پرستي مشغول شول او د هغه ۱۲ دوولس قبيلی يا طايفي چې کامل آيمان يې درلود. له هغوي څخه يې هجرت وکړ او کوه قاف ته راووتل او جماعتونه يې جوړ کړل او دخداي تعالی عبادت يې کولو او د رنګارنګ نعمتونو لايق شول.

(د زياتو معلوماتو له پاره قصص القران ته مراجعه وکړئ).

بر علاوه د مسو تبديلی په طلا دا امکانات او ډير نور روايتونه نقل شويدي چې مشهور د هغه څخه هم د سنګ فارس په نامه يو فولکوريکه کيسه ده..

د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځی استاد محترم مرحوم استاد پوهاند صاحب جاويد هم د هغو په هکله ليکلی دي چې ددغې کيسې يو روايت:

په پخوانیو زمانو کې د کابل په ښار کې دوه ورونه وو د علی رضا خان او علی مردان خان په نامه.

علی رضا خان یو زوی درلود، ډیر په ښکلا او ځواني چې په ښو ورځنیو فنونو برابر په ښه رویه او کردار د خلکو سره په ښار کې و. مګر پس له یوې مودې څخه ورځ په ورځ ضعیف او ډنګر کیدو. او د خلکو څخه لرې شو او د ښار ډاکتران دده د تداوۍ څخه عاجز پاتې شو.

پلار یې یو پیر درلود هغه ته ورغی او د هغه څخه یې مرسته وغوښته سپین ږیری پیر راغی په خبرو کې یې د کور حال پوښتنه وکړه او د زوی پوښتنه یې وکړه هلك ګویا شو چې یوه ورځ د ښار د یوې کوڅې څخه تیریده چې یوه ښائیسته جلۍ یې ولیده، نو هغه وخت د سترګو څخه یې خوب او د خولې څخه یې اشتها ولاړه. پیر او پلار زوی ته اطمینان ورکړ چې په هر صورت چې ممکنه وي، هغه جلۍ د هلك په نکاح راوړي.

هلك هغه جلۍ په نکاح کړه مګر د هلك ژوند ورځ په ورځ خرابیدو. پلار یې بیا هم هغه پیر (بزرګ) ته ورغی او د خپل زوی حال یې بیان کړ او د هغه د جوړیدو خواهش یې له پیر څخه وکړ.

پیر هلك ته راغی او ورته ویل به یې چې نن شپه د خوب په وخت کې خپله یوه ګوته غوڅه کړه او په هغې څه مالګه ووهه. تر څو د هغې له سوي او درد څخه بیدار پاتې شي او داسي به وښایی چې تاته خوب درځي هر څه چې وویني چوپه خوله پاتې شه. نو بیا به ته هیچا ته شکایت ونکړې، صبا به بیا خبرې کوو.

صبا بیا هغه پیر هلك ته راغی او پیر د پیښې پوښتنه وکړه چې څه وشول؟ او څه ولیدل؟

www.libtool.com.cn

هلك وويل: داسې نيمه شپه وه چې زما ښځه لـه خوبه پاڅيده يوه کوزه چې د اوبو څخه ډکه وه وڅکلې بيا هم تږې وه يو څه وخت غلې پاتې شوه. بيا لکه بلا اژدهار وږده شوه. چې سر يې تر کابل سيند يا درياب پورې رسيده او نوره بدن يې په کوټه کې وو. لږ څه وروسته راوګرځيد او بيرته خپل اول حالت ته راغی او ويده شوه.

پير وويل: چې دغه نسل د انسانانو له نسل سره هيڅ اړيکې نلري او يو جدي خطر دي. سبا لـه هغه څخه وغواړه چې ډيره آرزو لرې چې د هغه له لاسه ډوډۍ وخوري چې خپله يې په تندورکې پخه کړي.

پير تکرار کړه: زويه! هوښياره اوسه چې هيڅ بهانه دهغه قبولـه نکړې، تر څو هغه ومني چې تنور ګرم کړي او ډوډۍ پخه کړي او د ډوډۍ د پخولو په وخت کې دهغه ماشوم دهغې په غيږه کې واچوه. څه وخت چې غلې يانبه آرام شي دواړه په تندور کې واچوه. سريې محکم کړه.چې بيا ورته سر خلاص نکړې. هلته ما خبر کړه. هلك همداسې وکړل او پيرته يې احوال ورکړ. پير دتنورسر واخيست تنور يخ شوی وو. د تيګو يا ډبرو په دوو کلولو بدل شوي وو. چې نوم يې (سنګ فارس) کيښود او هغه غټه تيګه يې هلك ته ورکړه او کوچنی کلولـه يې له ځان سره واخيسته او وې ويل: هر وخت چې دغه کاڼي يا تيګې له مسو سره ووهې. طلا او که هر وخت يې لـه برنج سره ووهې نقره به شي او پير په خپله ورك شو.

لـه هغـه وختـه وروسـتـه علـي رضـا خـان او علی‌مـردان خـان ددولـت پـه درلودلوسره دومره مشهورشول چې د دوي ټول د خوراکونو لوښي هم له طلا اوسرو زرو څخه جوړ شوي وو.

د ځينو رواياتو له مخې په هغه وخت د انګريزانـو حاکميت پـه ملك کې جاري و او د وخت پادشاه دانګليس امپراطور پـه امر د (سنګ فـارس) لـه

هغه وغوښت. خو هغه پادشاه ته یو شرط پیشنهاد کړ هغه حاضر دي چې سنګ فارس به په خپل لاس دبرتانيې امپراطور ته ورکړي. پاچا هغه شرط قبول او هغه يې دهندوستان له لارې برتانيې ته ولیږه.

راشلي دي چې هلك په بيړۍ کې سپور و، د هند لـه لارې يې برتـانې تـه سفر کاوه پـه لاره کې مس وغوښتل هغـه سنګ فـارس موجـود و خلکو تـه وښودل او هغه په مسي لوښي ووهل چې ميسي لوښی په طلا بدله شو، هغه وخت يې تيګه یا ډبره سينه ته واچوله او په دې توګه سنګ فـارس ورك او دهغه حکايت په عامه توګه پاتې شو. همدارنګه دهغو آثارو په ډله کې چې د هغوي پـه اساس مس، نقره او سیماب پـه طـلا تبـدیلیږی پـه لس ګونـو عنوانونه دي لکه، اسرار قاسمی، سرالمستتر ( ) کنزالحسين، نقش سلیماني، مجربات سلیماني، او پـه لس ګونـو نـورو کتـابونو چې پـه بازارو کې خرڅیږی اودسل ګونه کالـه راپـه دې خـوا یـې دخلکو پـام خانتـه اړولی دی.

**ب: دعيني شواهدو په رڼا کې په طلا باندې دمسو بدليدل:**

د ځيني افسانو او زړو رواياتو لـه مخې د ځينو فلزاتو تبديليدل. لکه دمس ، سيماب او نقره په طلا د يو علم او فن پـه توګه دي، چې دغه علم د کيميا له مخې دي. دکيميا يا تيمي لفظ يوه عربي کلمـه دي چې د راز او پټ په مفهوم دي چې پخواني کيميا پوهانو بـه خپـل رازونـه لـه يو او بل څخه پټول.

جادوګرانو، کشيشانو د ځيني مـوادو لـه خواصـو پـه استفاده سره خپـل رازونه يې له يوبل نه پټول، په منځنيو پيړيو کې کيميا دانانو ځيني عناصر په ځانګړې توګه يو بل باندې بدلول چې هغوی ته بـه يې هم کيميـا دانـان ويل. ځکه ځينو حاکمانو او د قدرت درلودونکو د هغه وخت کيميـا دانـانو

ته تکلیف ورکاوه، حتی په اور کې یې اچول له دې دلیله بعضي علایم یې د نموني په توګه له ځان سره ساتل.

د ننڼیو پلټنو او څیړنو په نتیجه کې کانونو ایستل څخه فلزات په ځانګړې توګه لکه سیماب، مس، طلا په ځینو هیوادونو کې را پیدا شول.

ددغو درو فلزاتو موجودیت په یوه طبیعي معدن کې یو له دلایلو ددغه دریو فلزاتو یوه برخه وي. ځینی قدیمي روایتونه وایي څوك چې وکړی شي چې سیماب چې یو مایع ډوله فلز دي او په آساني سره پاشل کیږي، که جامد کړی نو په سپین زر به بدل شي له ځینو روایتونو له مخې روایتي کتابونه په کیمیاوي کتابونو مشهور شویدي. سیماب چې پخپله سپین دي، کولی شي د ځینو ترکیبونو پر اساس زیړ رنګ او طلایي خواص ځانته واخلي، یعني که چیري په ډېره باندي د شوري تیزاب چې نښه ورکوونکی د طلا دي، واچول شي هغه سیماب به د طلا خواص پیدا کړي او د شوري تیزاب نه شي کولی چې هغه په اکساید بدل کړي.

علاوه پر دی د آتومي تشعشاتو په نتیجه کې د سیمابو تبدیلدل په طلا سره هم ممکن پیژندل شویدي.

په یوې مجلې کې چې تقریباً (۳۰) کاله وړاندې مې لوستلی وه، یو حکایت موجود وو چې ګواکي دکیمیاوي او هستوي انفجاراتو په جریان کې په ځانګړې توګه د بمباریو له وجې په جاپان، او ویتنام کې وو، هغه سیماب چې د بمونو نقل کوونکي وو ټول په طلا بدل شوي وو.

که چیرې دغه حکایت حقیقت ولري د یو ډول عنصر تبدیلي په بل عنصر نه یوازې دا چې ناممکن نه دي، بلکې عملي ثبوت شوی هم دي.

طلا په مختلفو دلایلوسره په بازار کې په خالص صورت نه پیدا کیږي.

یو له دي دلایلو د طلا نرم والی او د هغه دماتیدو خواص دي چې له دي

امله معمولې طلا په بازارونو کې پیدا کېږي چې هغه د مس او نقرې له ترکیب څخه دي.

## ۶- د ترافیکي پېښو د مخ نیوي په خاطر څو لارې چارې:

په نړۍ کې ترافیکي مختلفې پېښې اجتماعي او همدارنګه اقتصادي خطرونه مېنځ ته راوړي او دا چې ډیر انسانان د ترافیکي پېښو په اساس له منځه ځي، دا چې ددې فاجعې څخه مخ نیوی شوي وي، مختلفې لارې وجود لري.

الف: د وسایطو او وسیلو کم والی.

ب: له کمپیوټر څخه استفاده.

ج: له مخصوصو پرکونو څخه استفاده.

لازمه دي چې له دې پورتنیو موادو څخه استفاده وشي.

### الف: د نقلیه وسایطو کموالی یا ساده او کوچنی جوړول:

د نفوسو د ډیروالي په تناسب او همدارنګه د نقلیه وسایطو ډیروالی. خاصتاً په لویو ښارونو کې د موټرو ډیروالی باید له ښار څخه کم شي. باید چې کوچنی موټر یو کسیزه او دوه کسیز موټرونه جوړ شي. یقیناً دغه رقم موټر چې خفیفه ماشین ولري، نو کم ځای به ونیسي او ورسره به د ترافیکي پېښو ضایعات هم پکی کموی.

### ب:د کمپیوټر له وسایلو څخه خدماتي استفاده:

په دې طریقه کې د سترګو په شان د لیدلي(Lens) اتومات کمپیوتر ا نصبول، توصیه کېږي چې په احتیاط سره په وړاندیني او وروستني برخه د

www.libtool.com.cn

وسایطو کې نصب وشي. چې په یوه معینه زاویه کې، د مثال په توګه په لس متري فاصله کې، وړاندې او وروسته فاصلې، سرك څاري. په دې ترتيب چې دغه کمپيوټري آله وکړای شي چې د وسایطو لاره بنده کړي مشخص او وکتل شي وسایط کله هم د ضرورت په وخت کې اتومات کمپيوټري ودروي.

### ج: وړاندې تګ او وروسته تګ د اتومات بريکونو په نصبولو سره:

په دې طریقه یوه سلسله اومات بریکونه لکه فنر د واسطې په مخکني برخه او د چلوونکي نصبول په مخکې په منځني برخه د واسطې کې توصیه کیږي، چې هم ارزانه او هم اقتصادي دي.

ودروونکي (چې د اتومات اوسپني برك په شکل) د واسطې په مخکني برخې کې نصب کیږي، فنري شکل یا (اسپرنګي) هغه وخت په مخکینی برخه کې وسایط به ودرول شي. د تلفاتو په شمیر کې به لازم کموالی راشي. او هغه چې د چلوونکي په عقبي یا شاته خواته کې نصب شي، داسې چې شاته د واسطې سره ولګیږي له واسطو سره به کمك وکړي چې د پرمخ وړاندې تصادم په صورت کې به د تلفاتو شمیر کم شي.

## ۷ – په راتلونکې کې پیپ یا پلاستیکي واتر پمپونه!

یو له هغه مشکلاتو څخه چې زیاتره هیوادونه له هغه سره مخامخ دي هغه د زراعت او د کرکیلې له پاره د اوبو کم والی دي. او افغانستان هم د کرنې له پاره د اوبو له کمښت سره مخامخ دي او همدارنګه د اوبو لګولو د غیر منظم سیستم موجودیت دي. ځکه د ځمکې اوبه کول ایجابوي چې

www.libtool.com.cn

بندونه، د واټرپمپونو لګول، یا نفتي واټرپمپونو لګول چې ډیر د لګښت ته اړتیا لري نو ډیر غریب هیوادونه دغه توان نلري.

نو ددغو هیوادونه د برقی واټر پمپونو نشتوالی په صورت کې د بادی او لمریز واټرپمپونو د پلاستکی او ربړي او یا فلزی پایپونو څخه په موثره توګه کار اخیستی شي.

ولي څرنګه کیدای شي چې یو د پلاستیکي، رابري یا فلزي پیپ، د واټر پمپ په توګه ورڅخه کار واخلي.

څنګه چې ګورو یو چلوونکي د یوه پلاستیکی پیپ چې ډیر ساده او معمولي دی، د تیلو په انتقال کې د یوی خواله بلی خوا څنګه کار اخلی؟ ددی حالت دکتلوسره د فزیك هغه فرمول زموږ مخې ته راځي چې د هغه په اساس د سرعت د یوه کاڼي مساوي دي د سرعت د یوه چرګك د پر په خلا یا فضا کې.

دا قانون موږ ته ښیی که چیري په داخل د پیپو کې یوه خلا یا خالیګا پیدا کړوله هغې څخه په استفاده وکړی شو د دریاب د جهیلونو، ویالې، او حتی دکوهي اوبه هم د فلزي، رابري، پلاستیکي او نورو پایپونو پواسطه اوبو لګولو د پاره استعمالیږي.

په لومړي ځل په پیپ کې یوه قوه، یو هوایی قوي کشش ته ضرورت دي، تر څو وکړئ شی چې د پیپ په دننه کې هوایي خلا پیدا شي او اوبه له ویالو دریابونو، جهیلونو،او کاریزونو څخه په یو قوي سرعت سره خارج کړي. دغه کار چلوونکي تر یوه حده پورې د پیپ په داخل کې په خوله باندي اجراء کوي. چې داوبو د انتقال له پاره د پیپ پواسطه اول ځل په یوه محرکه آولي قوه ضروري ده او هغه هم د یوه قوي هوا کش ماشین او د

بادي ځرخونو پواسطه ممکن وي. همدارنګه پيپونه د ټولو خلکو له پاره د يوه واټر پمپ حيثيت لري.

په لنډه توګه ويلی شو چې زموږ نړۍ د امکاناتو نړۍ ده. او انسان پر ځمکه دخليفه او د اشرف المخلوقات موجود په توګه کولی شي چې پوره صلاحيت او ماموريت چې خدای(ج) ورته ورکړی دي په لاسو او سترګو اجراء کړي د شاعر له قوله:

آسمان بار امانت نتوان باز کشيد
قرعهء فال به نام من ديـوانه زدند

په قرآن عظيم شان کې له (۱۷۰) ځله څخه زياته د علم او حکمت د فضيلت په اړوند ذکر اويادونی‌شويدي او په دي قرآنی احکام په پام کې نيولو سره ويلای شو چې انسان کولی شي چې د علم له برکته څخه په ګټه اخيستلو سره جهان تسخير کړی او د بشر د هوساينې په لاره کې په کار واچوی. په دي اړوند پياوړی شاعر شيخ سعدی عليه الرحمه خپلو خبرو ته د پای ټکی ږدم چې وايی:

رسد آدمي به جايی که به جز خدا نه بينند
بنگر که تا چـــې حد است مقام آدميت
و من الله توفيق

فيض محمد (ناياب - عطايی)

www.libtool.com.cn

## ماخذ:


۱- حمیرا (علمی) اطلاعات عمومی مصور، تهران، ۱۳۸۲ هـ. ل کال.

۲- ویل دورانت، لذات فلسفه، د زریاب خویی عباس ترجمه تهران. ۱۳۸۰ هـ. ل کال.

۳- فیض محمد نایاب، د دانا مجله، د مقالو مجموعه، ۱، ۲، ۳ ګڼې پېښور ۱۳۷۴ هـ. ل کال.

۴- محمود حکیمی، پرسش و پاسخ علمی، تهران، ۱۳۷۲ هـ. ل کال.

۵- وزارت معارف، تعلیم و تربیه دینی، د اووم ټولګي درسي کتاب، کابل، ۱۳۸۱ هـ. ل.

۶- میر داماد، میر داماد کبیر، پشاور، ۱۹۹۸ م، ۱۳۷۷ هـ. ل کال.

۷- علي بهایی، خزنیته الفوائد و محرمات هاشمی، بمبي، محمدي مطبعه؟

۸- محمد جوزي، طم طم هندی، بمبي، محمدي مطبعه ۱۳۸۰ هـ. ل کال

۹- جرال واکر، اسرار شعبده بازی، ترجمه، کاظم فایقي، تهران ۱۳۸۱ هـ. ل کال

۱۰- ګرګین کیاني، رموز کف شناسي و قیافه شناسی، تهران.

۱۱- خان آقا سرور، تیاتر در افغانستان، پېښور، ۱۳۷۹ هـ. ل کال.

۱۲- قصص الانبیاء فارسی آریانا کتب خانه پشاور.

۱۳- عبدالحسین سعیدیان، دایره المعارف شرق، تهران.

۱۴- احمدشاه حسیني، معالجهء مسنون سحر و چشم بد، پشاور، ۱۳۷۳ هـ. ل کال.

۱۵- خلیل الرحمن نعماني، نماز کامل ترجمه کوونکی مولانا محمد شهدا سراواني، پشاور.

۱۶- علي بهایی، جامع الدعوات کبیر، بمبی، محمدی مطبعه.


PROPERTY OF ACKU 12255

www.libtool.com.cn

# د اریک د ګرځنده کتابتونونو خپاره شوي کتابونه

١ د افغانستان عمومي جغرافیه
٢ جغرافیای عمومی افغانستان
٣ د افغانستان تاریخی ودانۍ
٤ بناهای تاریخی افغانستان
٥ د افغانستان محلي خواړه
٦ ورزشهای محلی افغانستان
٧ سپینه کوتره
٨ کمان طلائی
٩ زده کړو چه ور زده کړو!
١٠ بیاموزیم تا بیاموزانیم!
١١ په افغانستان کې د چاپیریال ساتنه
١٢ حفاظت محیط زیست در افغانستان
١٣ په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
١٤ تربیه و تهیهٔ بزق و باغها در افغانستان
١٥ د تمدن سوغات
١٦ ارمغان تمدن
١٧ زلزله در افغانستان
١٨ په افغانستان کې زلزلې
١٩ معیوبین و جامعه
٢٠ معیوبین او ټولنه
٢١ د افغانستان لنډه کی تاریخ
٢٢ تاریخ فشرده افغانستان
٢٣ د چرګانو ساتنه
٢٤ مرغداری
٢٥ دنیای کودك
٢٦ د ماشوم نړۍ
٢٧ نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
٢٨ د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه
٢٩ د شاتو مچیو روزنه
٣٠ زنبور داری
٣١ د افغانستان مشاهیر
٣٢ مشاهیر افغانستان
٣٣ د افغانستان کلك پوستي میوې
٣٤ میوه های سخت پوست افغانستان
٣٥ جغرافیای ولایات افغانستان
٣٦ د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
٣٧ تکنالوژي بایوګاز
٣٨ د بایوګاز تکنالوژي
٣٩ پرخوری یا خود خوری
٤٠ ډیر خوراکي
٤١ بازی های عامیانه اطفال
٤٢ د ماشومانو اولسي لوبې
٤٣-٤٤ لندی ها
٤٥ رهنمای تشخیص و تداوی امراض چشم، گوش، گلو و بینی
٤٦ د سترګو، غوږ، ستوني او پزې ناروغیو د تشخیص او درملنې لارښود
٤٧ سرگرمی با تجربه های علمی
٤٨ په علمي تجربو سره وخت تیرول
٤٩ په افغانستان کې کاني زیرمې

www.libtool.com.cn

۵۰ ذخایر معدنی افغانستان
۵۱ اساسات ماهی پروری
۵۲ د کبانو د روزلو لاربښوونې
۵۳ اوبه د ژوند سرچینه
۵۴ آب سرچشمه حیات
۵۵ تدبیر منزل
۵۶ د کور سمبالښت
۵۷ سبزی ها
۵۸ سابه
۵۹ د افغانستان مشاهیر (دویم ټوک)
۶۰ مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
۶۱ توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
۶۲ په افغانستان کې د باغونو د پرمختګ
په هکله ګټورې لاربښونې
۶۳ شاهراه های افغانستان
۶۴ د افغانستان لویې لارې
۶۵ ورزش
۶۶ ورزش (پښتو)
۶۷ تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان
۶۸ په افغانستان کې د ډله ییزو اړیکو وسایلو ...
۶۹ سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰ د افغانستان د چاپیریال بڼه
۷۱ اقتصاد
۷۲ اقتصاد (پښتو)
۷۳ تخنیك ابتدایی رادیو
۷۴ د راډیو لومړنې تخنیك
۷۵ د افغانستان مشاهیر (دریم ټوک)
۷۶ مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
۷۷ دانستنی های مالداری و وترنری

۷۸ د وترنری او مالدارۍ په هکله لاښوونې
۷۹ صنایع دستی افغانستان
۸۰ د افغانستان لاسي صنایع
۸۱ هرات در دورهٔ تیموری ها
۸۲ هرات د تیموریانو په دوره کې
۸۳ نباتات صنعتی
۸۴ صنعتی بوټي
۸۵ جهان نما
۸۶ نړۍ ښود
۸۷ گلدستهٔ اطفال
۸۸ د ماشومانو ګل غونچه
۸۹ آبهای تحت الارضی و معدنی افغانستان
۹۰ د افغانستان تر ځمکې لاندې او کانې اوبه
۹۱ روغه ټولنه
۹۲ جامعهٔ صحت مند
۹۳ شهر کابل در طی قرون
۹۴ کابل ښار د پېړيو په اوږدو کې
۹۵ اطلس ولایات افغانستان
۹۶ د افغانستان د ولایتونو اطلس
۹۷ تجارت در افغانستان
۹۸ په افغانستان کې سوداګري
۹۹ سیری در امواج موسیقی
۱۰۰ د موسیقي په څپو کې
۱۰۱ کمپیوټر (پښتو)
۱۰۲ کمپیوتر (دری)
۱۰۳ باستان شناسی در افغانستان
۱۰۴ لرغون پېژندنه په افغانستان کې
۱۰۵ ادب پوهنه
۱۰۶ ادب شناسی

www.libtool.com.cn

۱۰۷ اساسات تولید نباتات زراعتی در افغانستان
۱۰۸ په افغانستان کې د کرنیزو نباتاتو تولید
۱۰۹ افسانه ها و سرگرمی ها برای اطفال
۱۱۰ د ماشومانو لپاره کیسې او سرګرمې
۱۱۱ حیات وحش افغانستان
۱۱۲ د افغانستان وحشي ژوي
۱۱۳ محیط زیست و اقلیم افغانستان
۱۱٤ د افغانستان چاپېریال او اقلیم
۱۱۵ گوهر شاد ستاره تابناک عصر تیموریان
۱۱۶ ګوهر شاد د تیموریانو په دوره کې ځلانده ستورې
۱۱۷ افسانه گلها
۱۱۸ د ګلانو کیسې
۱۱۹ صحت خود را چونه وقایه نماییم؟
۱۲۰ خپل روغتیا څنګه وساتو؟
۱۲۱ جهان ما
۱۲۲ زمونږ نړۍ
۱۲۳ مشکلات مسکن در افغانستان
۱۲٤ په افغانستان کې د استوګنځي ستونزې
۱۲۵ په افغانستان کې صنایع او په ملي اقتصاد ...
۱۲۶ صنایع در افغانستان و نقش آن در اقتصاد ملی
۱۲۷ د کورني ژوند لارښود
۱۲۸ رهنمای زندگی خانواده گی
۱۲۹-۱۳۰ مجموعهٔ مقالات هشتمین سیمینار بین المللی کوشانیان
۱۳۱ دستور همه گانی زبان دری (صرف و نحو)
۱۳۲ پښتو ژبې لنډ ګرامر (صرف _ نحوه)
۱۳۳ باستان شناسی در افغانستان (جلد دوم)
۱۳٤ په افغانستان کې لرغون پېژندنه (دویم ټوک)
۱۳۵ طبي بوټي
۱۳۶ نباتات طبی
۱۳۷ دانش برای نوجوانان
۱۳۸ د نویو ځوانانو لپاره پوهه او معلومات
۱۳۹ با مخلوقات خطرناك طبیعت آشنا شویم
۱٤۰ د طبیعت د ځینو خطرناکو مخلوقاتو پېژندنه
۱٤۱ څو خطرناکې ناروغې ...
۱٤۲ چند بیماری خطرناك ...
۱٤۳ برخی از معلومات، نمایشهای تفننی و رموز آن

www.libtool.com.cn



# د ليکوال لنډه پېژندنه:

**فيض محمد ناياب _ عطايي**، د حاجي عطا محمد زوي د کابل د علي رضا خان په گذر کې په کال۱۳۳۸ هـ . ل کې زېږيدلی دي.

**زده کړې:** په۱۳۵۴ هـ . ل کال کې د کابل د حبيبی عالی ليسی څخه فارغ شويدي. په۱۳۵۸ هـ . ل کال کې د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د فلسفي او ټولنيزو علومو په څانگه کې لوړې زده کړې سرته رسولي دي د ژورناليزم مسلکي زده کړه يې له۱۳۷۰ تر۱۳۷۱ هـ . ل کاله پوري په پېښور کې د افغان نشراتي مرکز (AMRC) د راديويي تعليماتو په انستيتوت کې سرته رسولي دي.

**دندې:** د۱۳٦۰ کال څخه تر۱۳٦۷ هـ . ل کال پورې پروډيوسر، بيا وروسته د راډيو افغانستان د انسجام او ارزيابي د اداري اډيتور، مرستيال او د لنډې مودې له پاره يې د همدغې ادارې د سرپرست په توگه دنده ترسره کړيده. له۱۳۷۰ څخه تر۱۳۷۵ هـ . ل کاله پورې د DANA د موسسي د نشراتو او سروي د پروژو کار کوونکي او بيا وروسته د دانا د مجلې د مسئول مدير په توگه. د۱۳۷۵ هـ . ل کال څخه وروسته د افغان نشراتي مرکز (AMRC) د نشراتي سروي گانو د همکار په توگه. له۱۳۸۱_۱۳۸۲هـ . ل کال د آئينه افغان ايد د جريدي د اډيتوري بورډ د غړي په توگه، همدا رنگه د۱۳۷۹ څخه۱۳۸۲ کلونو پورې د افغانستان د تفاهم او ملي يووالي شورا (CUNUA) د تفاهم د جريدي د اډيتوري بورد د غړي او د جريدې د مرستيال په توگه خپله ژورناليستي دندې سرته رسولي ده.
د۱۳۸۰ هـ . ل کال څخه وروسته د اريک د گرځنده کتابتونونو د ادارې (ABLE) د اديتوري بورډ د غړي په توگه اوس د Internews د موسسي د سلام وطنداره د ادارې د راډيويي خپرونو د ايډيټور په توگه په دنده بوخت دی.

**په (ARIC) کې د ده چاپ شوي آثار:** د راديو ابتدايي تخنيک، کمپيوټر (ژباړه) او د همدې اثر (ځينې معلومات او د تفنني ننداړو رمزونه).

**هغه آثار چې د چاپ لپاره چمتو دي:** د فلسفې په مفهوم کې څېړنې، په روان پېژندنې باندي سريزه، د بشر نيکمرغی (رساله) په ختيځو هيوادونو کې ځينو علومو او فنونو ته يوه لنډه کتنه، د کيميا گرۍ څخه تر کيميا پورې. د فارياب ولايت د قيصار او دولت آباد د ولسواليو ټولنيزو او اقتصادي حالاتو ته يوه لنډه کتنه ...

د اريک گرځنده کتابتون
ځواکمن
د افغانستان د اطلاعاتي او نشراتي منابعو مرکز

د اريک د گرځنده کتابتونونو د خپرونو لړۍ
پرله پسې نمره ۱۴۴

www.libtool.com.cn